May 22, 1957

5 - OCT - 2
Copy ____ 1958

۴۳۳

د نور وشرمینه لرل تاسی هم پر نور وګرانوی خوداهم پیادلری
چه دهر چا آشنا دهیچا نه وی

بجلی

بجلۍ په خپله ژبه وائی زه جلوه د طور یم
موسی چه په بېدیا کښې وولیدلی هغه نور یم

موجوده په دنیا کښې دا جهان په ما آباد دی
زه مور د کائنات یم دا جهان زما اولاد دی

یوځای مې تکاو نشته کله نور کله تیاره شم
هم زه یم چه بدلېږم کله اور کله سکاره شم

ژوندون زما په غېږې کښې په ورځ اوشپه لړزېږی
په ستر گو کښې غړېږی نظرونو کښې ځلېږی

سختی چه کړم اختیاره تباهۍ کښې ایټم بم شی
نرمی چه را کښې راشی دعاشق د ستر گو نم شی

ښکاره کله دنیا کښې په صورت د عزرائیل شم
بیا صور له پوکی ورکړمه شپېلۍ دا سرافیل شم

دا زه یم بې قراره د عاشق په اسویلو کښې
دا زه یم چه اوسېږم د خوبانو په ککو کښې

څه وکړم؟ له فطرته یمه ډېره ناقلاره
هر دم هره گړۍ ځمه په نوې نوې لاره

(باتور ـ صاحبزاده ادریس)

(۲۷ کال) (٤) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

دپښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: م،د،«ژواك»

پته: د محمد جانخان واټ دلیك او اصول دپخوانی ښوونځی تر څنګه

دتیلفون لمبر (. . .)

په‌دی گڼه کښی

لیکوال		مضامین
۱- ښاغلی رحیمی		دغرب تمدن
۲- « (....)		دمی اتم
۳- « ثابت		ځینی تاریخی . . . .
٤- « خوزیانی		پښتو . . . .
٥- « جاله‌وان	د ۱۳۳٦ کال	تور داغونه
٦- « دهیواد نه	د جوزا اوله	آه! فدا
۷- « فضل حق شیدا	د ۱۳۳٦ کال د	د کلیو د پېغلو سندره
۸- « روحانی	شوال (۲۲)	د مینی نندارتون
۹- « بختانی	د ۱۹٥۷ کال	په بهار می قسم
۱۰- راغلی لیك	دمی (۲۲)	. . . .
۱۱- ژواك		الماس
۱۲- ښاغلی ح، نوابی		دربی بها
۱۳- « پسرلی		سور شفق
۱٤- « حبیب الله حبیب		کریملین

ښاغلی «رحیمی»

دغرب تمدن

۶ برخه

منځنۍ پیړۍ :

سیاسی او اقتصادی وضیعت:

د منځنیو پیړیو سیاسی او اقتصادی وضیعت ډېر مبهم او پیچلی دی ولی د یوی خوا دمذهب نفوذ او اجتماعی اوضاع (څنګه چه مو مطالعه کړه) ډېره پیچلی ده او دبلی خوا پخپله دملوك الطوائفۍ دوره ډېره معما ډوله ده او په مختلفو نقاطو کښی مختلف رنګ لری خو بیا هم داقتصادی او سیاسی نقطه له نظره د ملوك الطوائفۍ دوره په دی پیړیو کښی دومری مهمه ده چه دادوره اکثره دملوك الطوائفی په دوره یا دیدلای شی په منځنۍ پیړۍ کښې منطقې په بېلو بېلو برخو ویشلی شوی وی چه هره منطقه دمریو یوه ملوك الطوائفی وه.

او د هري برخی مشر بیا یو واسل (ناظر) و د یوی منطقی ملوك الطوائفۍ به څو واسلان یعنی ناظران درلودل خانان او واسلان ټول داشرافو د طبقی څخه و څو واسلو به د خان سره یو تعهد وکړو خان به ده هغه په عوض کښی یو ټوکی مځکه دته ورکړه — واسل به تعهد وکړ چه یو څو کسه د دفاع د پاره تربیه کړی. او دنورو واسلانو سره به همکاری او ښه روابط ساتی خو کله چه ملوك الطوائف دده د منطقی څخه تېر ېږی باید د ملوك الطوائف او ملګرو ډوډۍ مصرف ورکړی. عنداللزوم به دخان سره مادی کومك کوی، د زوی او یا د خپلی لور واده به بېله دملوالطوائف د اجازی نه نه شی کولای. که واسل مړ شو نو هغه مځکه به دده و زوی ته ورکړه کیده او که ئی زوی نه درلود نو مځکه بېر ته ملوك الطوائف ته مسترده کیدله. او وهر چا ته چه به ئی زړه غوښت هغه ته به ئی ورکړه. ملوك الطوائف دمنطقی د آمر په حیث دخپلی مربوطی منطقی څخه دفاع کوله. امنیت ئی ټینګاوه سکه ئی چاپوله او پیسی ئې په کار اچولی. د قاضی په حیث ئی د عواوی فیصلی کولې او د حاکم په حیث ئی حکومت کاوه ګواکی هم قاضی هم حاکم او مقنن و. که څه هم په اکثره منطقو کښی پاچهان وو اما اکثر دا پاچهان تر ملوك الطوائفۍ کمزوری او ضعیف و او د خپل شخصی مصارفو د پاره و ملوك الطوائفۍ ته محتاجیدل.

غیر له دغه نو موړو کسانو نورو اهالیو هم د نیم مریانو په ډول ژوند کاوه د یوی ملوك الطوئفۍ دمنطقی څخه دبلی ملوك الطوائفۍ و منطقی ته نشو ای تلای هغه منطقه منحصروه. واسل محکوم او و ملوك الطوائفۍ ته تابع وو ولی دپوره غلامانو په شان نه وو. دزراعتی حاصلاتو څخه چه به هر څه دملوالطوائفۍ او واسل ته پاته شول هغه به د همدی نیمو مریانو په منځ کی وویشل شول اساساً دا طرز د قرون اولی دملوك الطوائفۍ څخه یادګار پاته شوی دی په قرون اولی کښی

د اشرافو محکمی د غلامانو په ذریعه کرل کیدلي .

دقرون وسطی صنائع :

دقرون وسطی صنائع اکثراً لاسی و که به یه یوه دستگاه کنبی دوو یادرو کسو کار کاوه او یو دوه یادری به ئی هم شاگردان درلودل لیکن دا کار خانی په (۱۱)او (۱۲) قرن کنبی ډیری شوی خو کله چه کسبکار ډیر شول نو داهل حرفه واتحادیی هم روی کارشوی دي اتحادیو یخپل منځ کی رقابت نه درلود په آخر کنبی دقرون وسطی دعادلانه قیمت نظریه د مذهب د مشرانو له خوا پیشنهاد شوله چه دا نظریه په ټولو اقتصادی امورو کنبی تطبیق کیدله. مثلاً رانیول اوخرڅول باید په یوه عادلانه قیمت سره وشی . مفاد باید عادلانه وی که عادلانه نه وی نو حرام دی. کار فرمایان باید کارگرانو ته یو عادلانه معاش او اجوره ورکړی چه د هغوی حیات تامین کړی.

دقرون وسطی په اواخرو کنبی سود اخیستل او سود ورکول هم لږ لږ مروج شول او سود یوبل شکل غوره کړ . دمذهب مشرانو اجازه ورکړه چه په هغه امورو کنبی چه د سرمایی خطر موجود وی سود جائز دی نو په دی مناسبت سرمایه گذاری نسبتاً ډیره شوه او صنائع تشکیل شول.

د قرون وسطی تجارت :

به قرون وسطی کنبی تجارت منحصر او په بحیره مدیترانه پوری مربوط واوغوره تجارتی مرکز ونه «وینس» او جینوا وه . اما یسله یولسم او دولسم قرنه د اوروپا تجارت پراخ شو او تجارت په نو یه پیمانه سره واقع شو، دی وسعت او پراخی دتجارت او دتاجری طبقي فعالیت دا روپا په تمدن کنبی یولوی رول لوبولی دی او د اوروپا اجتماعی او اقتصادی ژوندون نه ئی تحول ورکړی دی دتجارت د توسعی لوی عامل علماء دابولی چه دمسلمانانو انحصار دبحرهٔ مدیترانی څخه ایسته شو او دوی لاس دهغه تجارتی شاهراه څخه لنډ شو . داتاثیرات به ورسته بیا مطالعه کړو:

دقرون وسطی سیانس او فلسفه

په قرون وسطی کنبی دیونان کتابونو څخه عربی علماؤ ښی استفادې کولې په (۱۳) قرن کنبی دارسطو فلسفه او هغه تضیف ومنل شو او هم مروج شو اود ارسطو فلسفه پر دوې برخی ویشلی شوی ده . اول نظری فلسفه . دوهمه عملی فلسفه . نظری فلسفه و مونږ ته راښئی چه انسان باید په کوم کوم شیانو باندې پوه کړی دا فلسفه دمتیافزیک ریاضي څخه مرکبه ده اوعملی فلسفه و مونږ ته دارا ښئی چه انسان باید څه وکړی او دژوندون لاری ئې را ښئی دافلسفه اخلاق، اقتصاد، سیاست بلل شوی دی اخلاق د فرد د صحی او ضاعو اوده دشخصی مسائلو او معاملو په باره کنبی بحث کوی. اقتصاد د کورنی چارو دښو انتظامولو په باره کنبی بحث کوی . اوسیاست دجامعی دسالم انتظام په باره کنبی بحث کوي داعلوم ئی عمومی علوم بلل. علم نجوم اختصاصی علم گڼه کیده اودد ین علم اما لعلوم پیژندل شوی وو. د څو علماؤ

نظر ئې چه دقرون وسطی په آخرو
برخو کښې راغلی دی مو نېز ئې
دلته په لنډ ډول ښیو . تا مس
اکوینس معتقدو چه باید یو عالم
دیوه شی حقیقت پیدا کړی او حتی
الوسع کوښښ وکړی چه دشیانو
د حقیقت په کنه ځان خبر کړی
ځنی خلك چه بعض شیان و ینې
او په هغه یو هیبزی هغه حقیقت
بولی او هغه شیان چه د دوی
دا ذهانو ځخه لوړ دی هغه
موهومی بولی ولی چه دوی نه په
پوهېږی . انسان دیو سلیم عقل
خاوند دی نو احکام باید معقول
وی پر کائناتو د خدای په واسطه
حکم کیږی جامعه د شاه په واسطه
اداره کیږی او انسان د روح په
واسطه رهنمائي کیږی.

د یوه حاکم لمړنی وظیفه
د امنیت قیام او د جامعی ارامی ده
او یواز نی مرام ئي د جامعی
با سعادته ژوند دی نو حکومت
باید د جامعی د سعادت د پاره
کوښښ وکړی.

دانت :

د دانت فلسفه یوه بین المللی
کتنه لری او د بین المللی
حکومت پشنهاد کوی (ولی
چه دانت د مذهب تر تاثیر
لاندی راغلی او پاپ به
بین المللی حکومت کاوه)
دانت شاهی حکومت ته په ښه
سترګه کوری او وائي چه امنیت
هغه وخت قایم کیدلای شی چه
یو شاهی بین المللی حکومت
روی کار شی دانت معتقد
ؤ چه د شاه قدرت مستقیماً د خدای
د طرف نه ور کړه کیږی نه د کلیسا
د مشرانو د خوا . نو باید حکومت
د مذهب تر نفوذ لاندی وی
دانت معتقد ؤ چه د انسانانو
خلقت یخپله یو مرام ندی
بلکه دا حقت د یو مرام د پاره
وسیله ده د دانت په نظر به
د انسانانو لومړنی شرط د آزاد
انتخاب حق وی چه په صحیح
قضاوت متکی وی او قضاوت
بیا تحلیل او پوهیدل باله کیږی
مثلاً انسان با ید په یوشی ځان
پوه کړی بیا هغه تحلیل کړی
او بیا د هغه په باره کښې
قضاوت وکړی او بیا ئی نو
انتخاب کړی

صحیح اداره د جامعی په
اتحاد او اتفاق پوری اړه لری چه
د اهم شاهی حکومت کولای شی

دمی اتم

تیره، تیره چهار شنبه دنور ۱۸ هغه ورځ وه چه د نړۍ له (۷۰) نه زیاتو هیوادو کنبی دسره صلیب دبین المللی تلین مراسم په ځای کړی شوه.

په افغانستان کنبی هم ددغی بین الاقوامی ورځی د روند هر کلی وشو، هیوادنی جریدو رادیواو دافغانی سرې میاشتی موسسې ددغی نیکمرغی ورځی د تلین له امله مخصوص نشرات، برو گرام او احتفال درلود.

افغانی سرې میاشتی ددغی ورځې په احتفال کنبی دافغانستان دسرې میاشتی له مرکزنه تربریکوته پورې واټ دسرې میاشتی دواټ په نامه ومانه اودغه نومئی دهغه واټ دپاره خاص کړ.

وطنی نورو اخبارونو هم پخپل وار ددغې موسسې دښېگړو پوره پوره ستاینه وکړه په تیره ئی د «هانری دونانت» سویسی خیر پالونکی انسان په میلاد او دهغه په هغه انسانیت او بشر دوستۍ رڼا واچوله کومه چه هغه دخپل تجارت په دوران کنبی (کله چه: چه دسلوکالو نه مخکنبی دایتالیی او فرانس ترمنځ ددری سوه زره خلکو چمتووالی په تیره دشاویښت زره وسله والا وولاس دیو بل په گریوان کنبی نښتی او د یو بل منگولی دیو او بل په وینو رنگ وی) دهغه امتحان ورکړاو دحب خیر په حکم ئی پر تجارت او شخصی منفعت گونډه کښیښوده:

داسی چه یوه خوا دقار او غوصی او دعصبانی مزاجونو ځنی داور بخری الوتل، کانهی او هر هرڅه ئی سیځل او ویلی کول له فرانسی تر ایتالیی اولا آن دها خوا دپخوا د تولو ملکونو زړونه له هیبته لرزیدل او درزیدل. له بلی خوا «هانری دونانت» دگرخواه او مردم دوست سویسی مالدار او د نرم زړه خاوند انسان دلویدلو، پرزیدلو او لمبیدلو انسانانو په راهسکولو مینځلو او دوا د رمل کولو بوخت وه.

نن د «هانری دونانت» ددغه نیک عمل اودغه دخیر دعالی فکر عکس العمل دی چه د جهان په خیریه موسسو کنبی ځلیږی مخصوصاً دجهان د بین المللی ستر صلیب موسسه ئی دانگازو مرکز بلل شوی او ځان ددغه ستر شخصیت دعالی فکر محصول گڼی. افغانی سره میاشت هم دغه شخصیت ته ښه ارادت لری او دهغه په یادونه کنبی دنورو ملتو او هیوادو سره جوخته تل سمه برخه اخستی او اخلی ئې.

هو! داسی خلك چه له خپل شخصی منفعت څخه دنورو دخیر او ښېگړو په مقصد تیرشی په تیره داسی بوانسان چه هغه دغسی بواخلاقی او انسانی درس دخپل مالی او ځانی ایثار په رڼا کنبی خطر ناکو او مدهشو خلکو ته هغه هم دغه شان چه په یوه وارد هغوی له سر نه دنوری اوپال، دانانیت او خودخواهی فکر کوز او په مینه او په محبت ئی بدل کړی، نو هغه ارومرو په دی ارزی او ددی حق لری چه بشریت پری ویاد او کړی او په درنه ئی یاد او ونمانځی.

(اداره)

دثابت تتبع اولیکنه

ځینی تاریخی لیکنی دغوراودقت وړدی

۲ برخه

اودهغه عصرداسلامی جذبې دقوت په اثرزمونږ ددغه پښتانه پاچا ملګرتیا اومرسته کړی ده. اوداشیخ حمید «لودی» دپښتنو د(لودی) قبیلې څخه دی، په هغه عصر کښی چه دی د پښتنو مشر و، په اول کښی چه دخپل تبرله خوا دده مشر نوب منل شوی و، بیانو دنور و پښتنو له خوادده ریاست منل شوی دی.

لکه چه په پښتنو کښی رسم اورواج دی کوم شخص چه دخلپی خاصی کورنۍ اوتبر له خواومنل شی نود هغه تبر دډیرښت اوزیات قوت اوزور له کبله نو بیادنورو پښتنو مشرهم کیږی او هغوی هم دده ریاست منی، په پای کښی نو موړی مشر پاچاهۍ ته رسیدلی دی.

دلودی تبر هم دشیخ بیټ بابا له اولادی اوزوزات څخه دی چه دهغه لور (بی بی متو) ته دلود یانو د تبر د نسب سلسله رسیږی، په داسی توګه چه: دلودی قبیلی سترنیکه ابراهیم لودی دبیټ بابا دلور بی بی متو لمسی اودده کړوسی کیږی دا ابراهیم په(لودی) متخلص و، چه دهغه داتخلص او لقبی نوم بیا د طایفی نوم شوی دی چه داطایفه په لودیانو باندی موسومه شوې ده.

او دا ابراهیم لودی چه شیخ حمید لودی دهغه زوزات دی، دری پښته له شیخ بیټ بابا څخه وروسته راغلی دی، نو که مونږ دهریوه پښت او پلار دپاره لږوډیر دیرش کلونه وټاکو، چه دیرش کلونه د بیټ بابا دلور بی بی متو دپاره، دیرش کاله دهغې دزوی غرځی لپاره اودیرش کاله بیا دهغه دزوی ابراهیم دپاره وټاکل شی، چه یعنی له دیرش کاله څخه وروسته به نو بیا دنوموړی ابراهیم زوزات پیدا اوپه ډیر ښت به یی پیل کړی وی، اوچه ډیرشوی وی نو به دخیل اوطایفی نوم وربا ندی اښی شوی وی. نوپه دی حساب دلود یا نو د تبر موجودیت چه له ابراهیم لودی څخه راوروسته پیدا شوی دی باید لږو ډیرسل کاله خوله بیټ بابا څخه وروسته تخمین او وویل شی.

اوداهم ډیرلیری ده چه پرڅو محدودو کسانو باندی دطایفی اوخیل نوم کیښودل شی، بلکه په پښتنو کښی داعادت دی چه دوی پرهغو خلکو باندی دخیل اوطایفی نوم ږدی چه دهغو شمیر ډیرزیات وی اولږوزیات ښاخونه او پښی هم ولری، لکه دپښتنو نوراوسنی موجودخیلونه چه پرڅانګو باندی مشتمل وی اوڅوڅووړی پښی هم لری. نوغالبه اودمنلووړ خبره داده چه ددی لودی طایفی نوم به هغه وخت پردغه تبر باندی ایښودل شوی وی چه دد وی دافرادو شمیر سوو، اوزرونو نفرو ته رسید لی وی. او شیخ حمید لودی به هم هغه مهال اوپه هغه زمانه کښی ددغی طایفی مشر شوی وی چه دغی طایفی

دخپل نیکه (لودی) نوم ځانته
موندلی او په دغه نامه موسومه شوی
وی چه په دی حال کښی به نو ډیر
کلونه بلکه پیړۍ به ورباندی
تیری شوی وی، چه د نفوسو شمیر به یی
هم په سوو او زرهاوو کسانو ته
رسیده. لکه چه د تاریخی
واقعاتو څخه هم داخبره څرګنده
او ثابتیږی چه د شیخ حمید تبر
او طایفی دومره زورورو چه دهند
له راجاګانو سره به ئی جګړی او
خونړی جنګونه کول چه په پای کښی
ددوی دزور او اقتدار په اثر
داسی اجراآت و شول چه
دملتان، سیند او غربی پنجاب
سیمی یی خپلی او و نیولی،
او دهغو نیز دی راجاګانو له خوا
هم ددوی حکومت په ملتان او دغو
سیمو کښی په رسمیت
وپیژندل شو.

نو دا کار هرومرو ددی حقیقت
دلیل او سند دی چه دغه تبر به
په دغه وخت کښی خورا زیات
نفوس لرل او زیاتی پیړۍ به
ورباندی تیری شوی وی چه
څو دومره زیات شوی وی.
نو دمور خینو داخبره چه دپښتنو
دیو روحانی باباشیخ بیټ دژوندانه
دپاره هغه تاریخ تاکی چه په هغی
زمانې کښی دده ډیر راوروسته
او لیری زوزات اولمسی ژوند
کاوه، بیخی له حقیقت څخه
لیری او یوه بی معنا خبره ګڼله
کیږی، ځکه داخو د شیخ حمید
لودی دژوندانه او موجودیت
تاریخ دی چه هغه دبیټ بابا له
زوزات څخه او په سوو کلونه
به له ده څخه راوروسته دنیا ته
راغلی وی. نو دبیټ نیکه او دهغه
دزوزات او لمسی شیخ حمید
لودی دژوندانه دتاریخ یووالی
او یا قرب عیناً دپښتنو له دې متل
سره چه دمحال او ناممکن په مقام
کښی یی استعمالوی تطبیق کیږی،
دپښتنو متل دی وایی: (زه
نه وم دنیکه چرګی یا مېږی
مې پووې) یعنی دا متل پښتانه
په هغه ځای کښی استعمالوی چه
څوك داسی ډول یوه محاله او
نامعقوله تاریخی خبره وکوی،
نو استهزاءً او دتمسخر په ډول
دهغه دداسی نامعقولی خبری
دتردید او ځواب دپاره دا پورتنی
متل وایی.

لکه دلته هم دڅو پیړۍ وروستنی
لمسی ژوندون دخورا ډیر لیری
پخوانی نیکه سره یو ځای ښیی،
او ددی دپاره چه باید بیټ بابا
زمونږ ډیر زیات پخوانۍ نیکه
وګڼل شی بل دلیل دادی چه:
د نړۍ پوهانو دمجهولاتو
دمعلومتیا او ښکاره کولو دپاره
ځنی اساسونه ایښی دی چه
دهغو له جملی څخه یو د عتیقه
شناسۍ اصول دی چه دحفریاتو
په ذریعه پخوانی او زاړه
څیزونه پیدا کوی او دهغوی
له مخی نو خپل عقائد دنیا ته
څرګندوی او دپخوانو په تعین
کښی حکمونه کوی، دوهم
دژبی او لغاتو پوهنې لیاره ده
چه زمونږ ددې موضوع په مورد
کښی همدا قانون دلیل
کیدای شی.

دژب پوهنی عالمان په
پخوانو زمانو کښی د ځینو لغاتو،
دموجودیت له قرائنو څخه دا
نتیجه اخلی چه فلانی قوم او
دهغوی ژبی په هغه عصر کښی
موجودیت درلود، او حکم
کوی چه دا فلانی قوم په هغی
فلانۍ زمانه کښی په نړۍ
کښی موجود ؤ، لکه چه په
ریګوید کښی چه یو نیم زرکاله

ترمیلاد د مخه دی ، دپښتون
نوم پکښې راغلی دی ، نو دغه
طبقه علماء دا حکم کوی چه
په هغه عصر کښې پښتون قوم
او ژبه ئی پښتو ورسره موجوده وه.
او په اوستا کښې لکه
دمثلا (د آریانا ویجو) او
(سپیته گونا گیری) او نورو
داسی ډول ډیرو کلماتو او
لغتونو دراتللو له مخی دغه
پوهان داحقیت ثابتوی چه پښتو
یوه پخوانۍ آریائی مستقله
ژبه وه ، او په هغه عصر کښې یی
څښتن او دې دواړو موجودیت
لاره، او دداسی آثارو او دلائلو
له مخی یو بل مستشرق پوهاند
دا ډول عقیده ښکاره کوی
چه : (دپښتو ژبه یوه پخوانۍ
محلی آریائی ژبه ده او وائی
چه که دا ژبه ژوندۍ او وروزله
شی نو زیات پخوانی آریائی
لغتونه به کشف او ښکاره شی ،)
او په همدغه شان او دغه
ترتیب سره نور ځینی د ژب
پوهنې عالمان دپښتون قوم
په باب کښې ، د ځینو خلکو ددا
لاندینۍ لیکنی (چه پښتانه یو
اسرائیلی ښاخ او د یهودو تبر

دی چه دلته دافغانستان هیواد
ته راغلی دی او اصلاً ددې
ځای نه دی) په ځواب او تردید
کښې داسی وائی : چه هر قوم
او تبر چه له یو ځای څخه مهاجرت
او لیږد کړی وی نو هرو مرو
دهغو هغه خپله او پخوانۍ ژبه
ور سره وړی او هغه خپله ژبه
او لغات یی په پېړیو پېړیو له
ځان سره ساتی ، او پښتانه له
اول څخه چه په پخوانو تاریخی
لیکنو کښې لکه په وید او اوستا
کښې چه د دوی وجود راغلی
او ثابت دی له دوی سره هیڅ یو
سریانی او عبرانی او
د کلدانیانو لغت نه دی څرگند
شوی او نه وروسته له هغه داسی
کومه نښه څرگنده شوې ده
چه د داسی خبر و اشتباه
ورڅخه ښکاره شی.
دلته دبیټ په موضوع کښې
هم دژبې پوهنې او لغوی څیړنې
له اصولو څخه استدلال کېدای شی ،
چه دبیټ او دهغه عصر نومونه
ددې عصر یعنی ددری یا څلورو
څو وهجری کلونو د زمانی
نومونه نه دی لکه چه ځینو
مورخینو لیکلی دی ، ځکه کله

چه سړی دبیټ ، سړبن ، خړشبن
غرغشت ، بولر ، تولر ، کراڼ
توراڼ ، غروښتی او دا ډول
نورو نومونو ته گوری ، نو
داسی ځینی څرگندیږی چه
دا نومونه ډیر زیات پخوانی دی
چه دپخوانیو آریائی پښتو نومو
له جملی څخه دی .
نه داسی چه دا نومونه د اسلامی
عصر دلومړی یا دوهم او دریم قرن
له نومو څخه وگڼل شی ځکه
په دغو وختونو کښې چه
دپښتونخوا خلکو د اسلام مقدس
دین منلی ؤ او په خوراښه
عشق او مینه د اسلام په دین کښې
داخل شوی وو او په دغو زمانو
کښې اسلامی جذبه په پښتنو
کښې خورازیاته او داسی قوی وه
چه خپل نومونه به یی حتماً
د اسلامی شعائرو سره برابر
ایښودل او د عربی کومه نښه
نه خامخا د دوی په نومونو
کښې وه په تیره بیا دپښتنو سترو
کورنیو او علماؤ او روحانی
اشخاصو لکه دبیټ بابا غوندی
اشخاصو خو به هرو مرو دخپلو
اولادو دنومو په ایښودلو کښې
دا مراعاتونه کول لکه چه دا

ترتیب تراوسه پوری لا په پښتنو کښې جاری دی، او په هغو زمانو کښې په پښتنو کښې د اسلامی نفوذ زیات مثالونه شته چه دلته نه ځائیږی،

نو په کلکه سره داسی حکم کیدای شی چه دا نومونه د اسلامي عصر نومونه نه دی بلکه خورا ډیر پخوانی دی. او ویلای شو چه د بیټ بابا دژوند تاریخ ډیر وړاندی او پخوانی دی، او د دغو قرائنو له مخی هم نشی کیدای چه د ده له خپل ډیر لیری او وروسته کړوسی شیخ حمید لودی سره د ده دژوندانه تاریخ یو ځای وټاکل شی،

او بنا پر دغو دلائلو مونږ باور لرو او وایو چه د پښتنو په ځینو پخوانیو واقعاتو پوری متعلق د ځینو مورخینو دا لاندینۍ خبره چه زمونږ له دې موضوع سره تطبیق کیږی رښتیا او حقیقت لری، هغه داده چه لیکلی ئې دې:

(هغه وخت چه سهاك مشهور په ضحاك چه د شرق له خوار اغی او د فارس پر پاچا یما «جمشید» باندی ئې حمله وکړه او هغه یی مغلوب کړ او د هغه پاچاهی او د فارس مملکت ئی ونیو او له هغه وروسته ئې ډیره زمانه د فارس مملکت پاچاهی وکړه تر څو چه په پای کښې د نوموړی جمشید لمسی فریدون راپیدا شو او زمونږ د سهاك په مقابل کښې پورته شو چه څو ئې د ایران پاچاهی بیرته خپل لاس ته راوسته، او نوموړی سهاك پاچا د ایران هیواد پریښود او له خپلی کورنۍ او نورو خپلو قبائلو او قوم سره بیرته خپل هیواد پښتونخوا ته راغی.

او د ده ځینی اولاده خپل پخوانی ابائی مرکز بامیانو ته ورغلل، او ځینو یی په غور کښې ځای ونیو او د خپل هیواد د سلطنت او زمامداری واګی یی په لاس کښې ونیولی، او له دغه ځایه ئی د فریدون فارسی لښکری بیرته پرشا ووهلی او د هغوی د نور تیری او تجاوز مخه ئی ونیوله او هغوی هم د خپل وطن په لاس ور وستل غنیمت وګڼل او د پښتونخوا پر حدود و یی له تجاوز څخه مخه واړوله.

په دې وخت کښې د نوموړی سهاك له زوزات څخه یو شاهزاده چه (هسین) نومید د غور د شمالی خوا غرونو ته راغی او د نوموړی بیټ بابا چه په هغه عصر کښې د پښتنو یو ستر روحانی مشر ؤ، د هغه لور ئی چه بی بی متونو میدله ازدواج کړه. او دغه سیمه د نوموړی شاهزاده هسین د زوزات او اولادی تاتو بی او داستو ګنی ځای شوه.

نو په رښتیا سره باید سړی ووایی او قناعت ئی راځی چه زمونږ د نوموړی مشر بابا بیټ نیکه ژوندون په هغه عصر او هغه زمانه کښې ؤ چه هغه زمانه ډیره پخوانۍ ده او د ایرانی فریدون دژوندانه له زمانی او عصر سره برابره ده - او که داسی ډول ونه شی او د پښتنو د دغو پخوانیو نیکه ګانو ژوند او د حیات تاریخ یی دلته نیژدې وټاکل شی، نو هرومرو به دا سوال پیداشی چه دا پښتانه خو د هغو څو معینو نیکه ګانو اولاده دی، او هغه اشخاص خو دلته رانیژدې شول چه د اسلام په دریم قرن کښې ئې لکه د بیټ بابا ژوند وټاکل شو او د نورو نیکه ګانو به هم په دغو خواوشا کښې وی، نو هغه پښتانه چه په مرکزی آریانا کښې یی ژوند او استوګنه لرله

پاته په ۹ مخ کښې

ښاغلی محمد امین خوږیانی

دلائل قایم کړی دی ښه ئی ښه دی بدئی بد دی .

بل اجتماعیات دی چه مونږ ئی پښتو نولی بو لو دا په قبا یلی طرز منلی شوی دی د اد پښتنو ډېر زوړ میراث دی . پښتو ن ددې څخه لاس نه اخلی چه تر څو په پښتو خبری کوی پښتون به وی.

د پښتونولۍ اجتماعی برخه

-۳-

ننګ او جنګ

د پښتانه نو کر-همسایه-میلمه کسبه - عالم - ستانه - سیمه - وربوی - ګندی مار- قوم- عزیز خان-ملك- ښځمنه - خاوره - څاروی، خبره-عقیده-هر یو ننګ

پښتو پښتنو اله ....

-۲-

را پور ته کو ی خو لوی لوی جنګونه یا په خاوره دی یا په ښځه خصوصاً په کنډه.

پښتو ن د خپل مړی څخه په ننواتی تېر ېږی خود قوم، عزیز ګندی مار کسبه- عالم-ستانی همسا یه - میلمه - خان - ملك دعزت څخه نه تېر ېږ ی .

دمړی ننواتې کښی کله بد (معاوضه) قبلوی کله ئی نه قبلوی او د ګندې ننواتې کښی (عوض) هرومرو غواړی .

د پښتانه انتقام ډېره اوږده زمانه غواړی په یوه پېړۍ دوه پېړۍ کښې نه تمامېږی وائی چه پښتو ن سل کا له پس پلارو ګاته نو خلقو وویل چه ژرئی و ګاته چه پښتو سل کلن انتقا م تلوار بولی نو ځنډ نی به څومره اوږد وی . د پښتا نه د ننګی تار یخ ډ ېر ز وړ دی د افغا نستان قد یم تاریخ چه ښا غلی کهز ا د کښلی د ی د محار بات څخه یو ه و ا قعه رانقلوی چه ار ین قبائلو خپلو کښی جنګو نه پیدا شول نو بهار ته ګان په ا ر غند ا ب کښی او سید ل ددوی، یو پادشاه وو دی دیوادر نومیده ډ ېر قبائل ئې راټو ل کړه پښتنو سره ئی جنګ ؤ د پښتنو پادشاه تورو ایا نا نومیده زلمی پادشاه ؤدی ور باندی و ر غلو د یو ادا سا ئې وو اژه او د ده ملکری ئې وځغلول ددغې و رځی څخه بها ر ته ګانو افغا نستان

د ۸ مخ پاته

او پښتو ژبه دهغو ژبه وه لکه چه ریګو ید په (۱۵۰۰ ق م) کښې وا یی او مستشرقین پوهان یی هم دهغی پخوا نۍ ز ما نی بولې، هغوی نوڅه شول او چیرته دی؟!

نو په رښتیا سره د د غه سو ا ل ځواب به نو څه وی؟ او څه به ویل کیږی؟ هیڅ.

نوله د غه کبله لا زمه د ه چه داډول لیکنی باید سړی و نه منی . بلکه غور اوژو ره کتنه باید پکښی و کړی.

اوله داډول قرائنو څخه په اثبات رسیږی چه زمونږ دامشر رو حا نی نیکه او نو ر دا سی نیکه ګان موچه پښتانه له هغو څخه راخپاره شوی د ی او له پخوانیو زمانو څخه دامر کز ی آر یانا دهغو داستو ګنی مر کز او ځای وه خوراډ یر پخوا نی او د پخوانیو پیړیو دی. (ثابت)

پر یښوده د خیبر او د بولان
او د گومل په درو سند خوا ته
ولاړل او په مودو د بیاس د سیند
غاړی ته ورسېدل .

د دغه مقتول پادشاه یو نمسی
چه (سوداس) نومیده یو وزیر
سره روان شو وزیر پښتانه
و ننگول ورته ئې و و بل چه
ما د بیاس او د ستلج په غاړه
د پادشاه د پاره توری وو هلې
او زما په تدابیرو دا پادشاه په
پنجاب متصرف شو زما مکافات ئی
دارا کړو چه زما لاس ئی د کار
څخه وو یسته نو د افغانستان
د قبائلو لس تنه ملکان د خپلو
لښکرو سره ورغلل او پادشاه
سره د مظلوم د پاره و جنگیدل، دی
جنگ کښی پښتانه گنداریان
او الینان و غیره عناصر
د بهار ته گانو د پادچاه سرزنش
ته ورغلی وو داوارنو تورو ایانا
مړ ؤ دی لښکر هغسې سر کرده
نه درلود دوه تنه ملکان قتل شول
او نور په ماتی را غلل دا زوړ
تاریخ دی چه د میلاد څخه زر
کاله پخوا واقعه بیانوی پښتون
د بلخ او مربوطاتو څخه توره اخلی
او د مظلوم انتقام د بیاس
په غاړه غواړی .

د کمزوری ملگری دی که
خوارؤ که آبادؤ که خپلؤ که
پردی که لری ؤ که نژدی که
پکښی مری که پکښی پائی خود
مړانی هیله لری چه دا واقعه
تاریخ ثابته کړه نو د ننگی
تاریخ ئی در و زر و کلو ته
و رسیده همدا تاریخ یوه بله
واقعه بیانوی چه هغه د انتقام
او د ننگی دواړو صورت لری
او د ننگی قدامت تر څلور و زرو
کلو پوری رسوی هغه واقعه
د جمشید بربادی او د بلخ ورانیده
د پښتنو بند او د جمشید د دوولونو
ریاست را پیدا کړه چه ضحاک
پادشاه د عراق څخه راغلو او دا
کارونه ئی و کړه نو فریدون
محدی ورولاړشه او ضحاک ئی
په عراق کښی و واژه
او شاهزاده گانی او نور اسیران ئی
را ورسول که دا کار ئی ځان
ته کاوه انتقام دی او که د قوم
د پاره ئی کاوه ننگ دی او عمر ئی
څلور و زرو کلو ته ورنژدی دی
خوشحال خان خټک څلور سوه
کاله پخوا وائی :

دنیا واړه نام و ننگ دی
که دانه وی جهان ړنگ دی

د پښتانه په اصولو دنیا په نام
و ننگ ولاړه ده که دانه وی
دنیا ورانه ده ما ته د تاریخ درویه
ثابته شوی ده چه پښتو د عربو په
ننگه د حبشو جنگ ته هڅه
کړې ده هلته خو اسلام نه ؤ د مظلوم
ننگه وه سنه ۵۷۱ «م» کښی
دا واقعه تېره شوې ده .

د پښتون ننگه کله په ځای
وی او کله بیځایه دا ځکه چه
دی د ننگ د پاره سیلولی ناست
دی که ننگوونکی د مشر کورته
ورغلو نو دی به فکرو کړی صلاح
او مشوره به و کړی خلق به
راوغواړی ننگو ونکی به هغه
خلقو ته واستوی چه د مشری
مدعی وی چه دا خلاصه راولاړشی
او که کشر ته ورغلو نو مغه
فوری نغاره وهی آوازه اچوی
بیا نو د همده ننگه شوه خپلوان ئی
ننگې ته ناچار شی اخون
درویزه کښلی دی چه
سلطان محمود غزنوی ته یو سړی
راغی خپله گوته ئی وروښوو له
چه زما باداره زه ستار عیت یم
هندو بارته تللی وم یوی ښځی
مستی خرڅولې ما گوته وروړه
چه ماسته و گورم چه تروه دی

او که خوازه د کوتوالی سپاهی
ولاړ ؤ زما گوته ئی پر یکړه چه
دادی ولې چوته کړه اوس ئی
څوك نه اخلی «نه رانیسی» نو
گوته ئی تعزیراً راغوڅه کړه زما
بازخواست و که سلطان محمود
پښتنو قبائلو ته ننگ وروړ لو
او دهغوی کېږدۍ ته ور غلو
داوی ملك په تغری ئې کټو باندې
کړه «کښېښوه» داعمل د پښتنو
په عرف دپښتنو ننگول ور د پښتنو
څورلس قبیلې دخیلو ملکانو
دریاست لاندې زر زر سپاره تیار
کړه او ملك یحیی ذله زاك دره
زره سپاره آماده کړه او د هغه
مظلوم مسلمان دباز خواست
دپاره په سنه ۲۰۶ هـ ق کښې
هندوبار باندې هله کړه او
د گجرات څخه ئې دسومنات
بت بېځایه که مؤرخانو دسلطان
محمود شاهانه شان ساتلی او دا
واقعه ئې نه وه ذکر کړې
داخبر دعنعناتو په څېر تراخون
درو یزه ورسېده او هغه کتاب ته
رانقل کړو او اخون درو یزه
سنه ۱۰۲۱ هجری قمری کښی
کښلی ده پښتون په ننگه عوض
نه قبلوی خانجهان لودی

په سنه ۱۰۲۱ هجری کښې دپښتانه
د ننگې ډېرې قصې کښلی دی
دې قصو کښې یوه قصه دسلطان
بهلول لودی جنگ دی چه دخضر
خانی سلسلی وروستی پادشاه
چه د گورگانی خانوادی دتاثیر
لاندې ؤ نو پښتنو د ډهلی
دآزادۍ دپاره په دی جنگ
وروړ لو ډهلی محاصره شو بهلول
دپښتونخوا پښتانه راو ننگول
او دوی ته ئې خطونه اوجرگې
ورواستولی چه دپښتنو خویندې
میندې ډهلی کښې محاصره
شوی دی راهی شیء چه ئې
راخلاصې کړو نو ټوله پښتونخوا
په ننگ راغله دې جنگ کې
ملك کالوخان ژوبل شه
ډهلی فتح شو د پښتانه طوغ
ورباندې آزدانه ورپېده بهلول
سلطان شه اولویه مېلمستیا ئې
وکړه یوه روځ د نارینه ؤ بله
ورځ دښځو دپاره او هرچا ته ئې
دډوډۍ څخه وروسته درو یو
همیانۍ او دکالیو بخڅه مخ
کښې کښېښوه ملك کالوخان
ته ئې دژوبلې په نامه لویه جایزه
ورواستوله ملك کالوخان
داجایزه رد کړه او ځواب ئې

ورکه چه زه خپل زخم نه
خرڅوم دا زخم مادقام په ننگ
کښې اخیستی دی د پښتنو
خویندې میندې بندیانې وې
ماځان واژه دامحاصره مې ماتوله
اوس خو په ژوبله ترسره ورسېدو
جایزه درواخله د زخم بهأ
مزدوران قبلوی ننگیالی د ننگ
دپاره کار کوی.

زما هېر دی چه داملك د کمی
قبیلې اورېدلې مې دی چه
یوسفزو کې کالوخان نومی
کلی شته که همدا کالوخان
ؤ نو یوسفزی به ؤ او که بل څوك
ؤ نو دی به گمان کوه د گومل
دخوا پښتون په قام محمود
خیل ؤ (کتاب نشته مقاله
کښمه) څوك چه ؤ پښتون ؤ
دپښتونخواوه.

بله قصه ئې داده چه
قطب خان د سلطان بهلول
دتره زوی دهند شرقی خضرخانی
پادشاه سلطان محمود سره
بندی ؤ نو بلکه جهان د سلطان
بهلول ماندینی چه د قطب خان
خور وه دیدو ادید په ځان
حرام کړ ترڅو چه سلطان دهند
شرقی برخه فتح کړه نو هله

ورسره مخا مخ شوه بله دا چه
یووخت همداسړی چه د سلطان
اخښی او دتره زوی ؤ دده په
مخالفت د دښمن فوج کښې وه
ده سره جنګېده نو ده ورته څوك
ورواستاوه چه وئې ننګوی
نو هغه ورته وویل چه نه شرمېږی
دیوتوك ډوډی دپاره خپل قوم
خرڅوی او دپښتانه ملاماتوی
نو هغه ځواب ور که ته ور ځه
زه به ئې تلافی وکړم که اوس ئې
پرېږدم بې ننګی ده چه جنګ
خلاص شو نو بیا به دبیګانه خوا
پرېږدم .

یوه قصه چاد خانجهان لودی
باره کښی کښلی ده چه دی
دملتان ناظم ؤ دقندهار خلق
جرګه ورغلل چه هر کال په
قندهار کښی دصفو یانو تاخت
وتازوی مونږ به شپېته زره
سپاره در کړو دو رځی به څلور
تنګی در کوو چه ناجاری ده
هر څوك خرڅ نه لری مونږ به من غله
په دوه تنګی در کوو چه کدام
ډك وی دوی به ئې ور څخه اخلی
هم به زمونږ دخوا ارزانه غله
درشی هم به په جزوی تنخواه
کاروشی هم به ستار کاب
کښې وینی تو یوواو صفو یان
به تر اصفهان پورې زغلو وزمونږ
دا ذمه ده په دې شرط چه قوماندان
موته وی او ګټه به جهانګیر
پادشاه ته وکړی نوم به دې
لوړشی نو هغه ځواب ور کړ
چه جهانګیر پادشاه زما دقوم
دا ننګه ماسره وګوری نوما به
کله ژوندي پرېږدی وائی
چه هغه اجازه وغوښته لیکن
مجمله جهانګیر ځواب ور که
دهغې خواشاه عباس دی د دې
خوا به یا زه ځم یا به یوزوی
دراستوم چه د پادشاه مخې ته
یا پادشاه ځی یا شاهزاده یعنی
ته نوکر سړی ئې دو مره لو یه
دعوی مه کوه نود خدای تعالی
غیرت ګوره چه شاجهان ته
شاهزاده یاغی شو د جهانګیر
ملګری نه ونودی ئی
وروغوښت او د شپی دو مره
بېریده چه دی به ئې د چپر کټ
لاندې څملاوه چه شاهزاده خورم
«شاجهان» خبر شو نو بېرته
جارو تلو زه به تر کمی پښتون
ستایم خوشحال خان خټك
وائی :-

د نیا واړه نام وننګ دی
که دانه وی جهان ړنګ دی

هوښیاران پرېږده لیونی
خان وردګ ژوندی دی چه
انقلاب تېرشو نو جناب سردار
فیض محمد خان وزیر خارجه
به ګړاوه چه خانه څه وینی څه
دی ولیده نو ویل به ئې چه
دپښتانه تخت وتاج غلو نیولی ؤ
د دې سپین زیری دزیری ځار
شم دده ترسپینو عینکو جار شم
چه د پښتانه ننګه ئې تر سره
کړه اشاره به ئې محمد نادر شاه
ته او اعلیحضرت شهید ته وه
رحمة الله علیه .



دا مهره د سلطان بهلول لودی د قبر هغه ډبری ښئی چه پښتنو د سلطانانو په آباتیو کښې استعمالولې

ښاغلی جاله‌وان

تورداغونه

دتنور دسرو لوخړ و په سر ولاړی ابیء می خولې د تندی نه وڅڅولې ، اود مینی دبی انتها جذباتو نه په ډکه خندا کښی ئې را ته وویل «قربان شم ورشه ، مخامخ په دالان کښ کښینه دلته ډیر تاودی زه دادی اوس ډوډۍ پوری کوم ، اوچه ته مخ لاس وینځی ، نومابه درته ډوډۍ بیا تیاره په شکور کښی ایښودلې وی» .

ریدی گل وویل زه دپټی نه ستړی ستومانه راغلی وم ولی ابۍ ته چه می وکتل چه په تنور کښی ویشیند ونکی اور لمبوته داسې بی غمه ولاړه ده لکه زمری چه دښکار دپاسه ولاړوی ، نوخپله ستومانی می هیره شوه ، اودمیاندو زړه چاودون ته می پکرشو ، چه دا میاندی دخپل زوزاد دپاره څو مره ناکامونو ته دغرونو په شان مضبوطې ولاړې وی» .

ریدی گل وویل : «مادالان پلولا دویم گام بدل کړی نه ؤ چه باهر په کوڅه کښی فقیرغږ کړو ، خیرراوړیء خدای موو بخښه» دفقیردې غږ خدای خبرچه ولې ځما دتصورا تو اوخیالاتو په سمندر کښی یو تلاطم اوطوفان راوست ، دزوزاد دپاره دمیاندو دبیشماره قربانو داحسانمندی پکراوخیال مې دمغزونه ووت اودفقیر دې غږ مې داحساساتو په گنبد کښی گړنجهار راواخست ، چه خیر راوړیء خدای موو بخښه .

«خیرات گرخیرولی غواړی هره ورځ ، سهار ، غرمه اوماښام دیونس او گیډې دپاره په پردو درشلو کوز ستر گی ولی گرځی فقیران خوهم لکه مونږ بنی آدم وی ، عزت نفس ، خود داری غیرت اوپښتولری ، ولی دچا په در چه وړشی ، نوڅوك ورته هر کله راشه نه وائی د کور سپی ورپسی راوزی ، چه مات گوډ وجودئی نورهم خنی خنی اوشلیدلی جامې نوری هم تار تار کړی» .

ریدی گل وویل دفقیرانو اوخیرات گرودژوندپه فکر کښی ځما د سوچ او احساس بیړۍ په چغه روانه وه ، چه دابۍ غږ مې اورید ، چه راځه بچیه !! تاخو په دې غرمه اوتاو کښی په ولاړه ولاړه ځان ویلی کړو ، مور راته کوزه په لاس ولاړه خندلی ئې چه دزړه سره نن جوړ ډیر ستړی شوی یی ، او دا رنگ دې ځکه پیکه پیکه ښکاری ، سردی و خوری پټی ستا خو د رختصتۍ ورځ ده خپل سبق زوتوه ، او بیا په آرام په غزیدلو پښو پروت اوسه ، پلار دې پوه شه ، اود هغه د ځمکو لانجې .

ریدی گل وویل دما لاسونه لاوینځلی نه ؤ ، چه فقیر بیا چغه وکړه خیرراوړیء ، خدای مو وبخښه داځل د فقیر په آواز آو ریدو صبر نه شوم باهر در وازی ته ورغلم او ورته مې وویل ته لږ ایسار شه ځما در سره کاردی ، زه بیا د ننه لاړم ، خپله او دفقیر ډوډۍ می را واخسته !! فقیر می دځان سره حجری ته روان کړو ، چه

راځه نن ځما میلمه ئې حجری ته
په رسیدو چه زه په کټ کښی
کښینا ستم دستر خوان مې
وغوړاوه نو دفقیر ستر گی دغټو
غټو او ښکو نه ډکې شوی چه
خان زاده !! زه خو ډیر عاجز او
د نورو په خیر او زکواة
پائیدونکی بنده یم ، تاسره په
یوتالی په دی ډکه حجره کښی
څنګه کینم».

«ماورته وویل هرڅه چه ئی
ځما پښتون ورویی او داډوډۍ
به هم په دې ډکه حجره کښی
ماسره په یوتالی خوری» ډوډۍ
چه موو خوړه نو فقیر می دسیند
په غاړه خپل ارټ ته روان کړو
داوبو په غاړه په څپر گۍ کښی
کینا ستو ، او فقیر ته می وویل
چه اشنا !! دخدای فضل دی ته
خو په وجود باالکل روغ او ځوان
ځلمی سړی یی بخښنه غواړم
ولی دیو پښتون ورور په حیث
له تا نه ددی خبری ځواب غواړم
چه ته خیر ولی غواړی ،

ریدی گل وویل: مالا خبره سرته
رسولی نه وه ، چه فقیر لکه
دماشومانو پړینګ په ژړا شو
چه خان زاده ! زه به دی په
گولۍ الوزولی وای زهر به دی
را کړی ؤ اپوته به دی حلال
کړی وای ، خودا تپوس به دی
رانه نه کولې چه زه خیر ولی
غواړم .

فقیر می دلاسه کړو چه داڅه
دو مره افسوسنا که خبره نه ده
په دې دنیا کښی یواځی ته نه
بلکه ستا په شان په زر گونو او
لکونو ځلمی ، ماشومان ، پیغلی
زنانه او نارینه دنورو اسری
او گټی ته ناست دی خلك په څو
څو طریقو خیر غواړی زه هسی
ځان پوهول غواړم چه ته په دی
ځوانه ځوانۍ کښی په روغ
رمټ وجود کومی یوی خبری
خیر غوښتو ته مجبور کړی یې

«فقیر دیو سوړاسویلی نه پس
وویل» زه دفلانکی کلی دضلعدار
نور محمد خان کړوسی یم
دارټ په بیاسته کښی چه
څه وخت لوټکې د ښکته نه بره
خېژی - نو سر یی لوړ وی -
او دخولې دخولې پورې ډك هم
البته څه وخت دالوټکی په ښکته
روانې وی - نو سر یی هم ښکته
وی - او داسې تش وی - چه
یو څاڅکی او به پکښی بیا نه وی -
دارټ په بیاسته کښی مخ په ښکته
دروانو لوټکو په شان دواقعاتو
رفتار ځمونږ دمشرانو په عظمت
او جاه و جلال گردش هم راووست
هغوی دخپل کلی او لس نه
شړونکی شو - او بیا خبر نه یم -
چه دژوند پاتی شپی ور ځې ئې څنګه
تیری شوی - دفتیر ستر گی بیا
داوښکو ډکې شوې او په ژړغونی
آواز یی وویل : «ادی
مې وائی - چه ته لادڅلو ښتۍ
ماشوم وی - چه پلار دې خدای
واخست: ادی می بیا دیو او بل ستا
او ځما کره په وینځتوب ځان
هم وساتو - او زه یی هم را لوی
کړم - ځما په مټو کښی چه
زور و شو - نو په خواري
مزدوري پسی کله په انګا او
کله په بنګا - ولې پخه
نو کری خو پر ېږده - چه ددیاړې
پوښ درك مې هم چرته سم نه
لګیده - خان زاده ؟ خواری
او مزدوری هم اوس دښه دروند
سفارښت نه غیر موندی نه شی
ځمانه خو څوك دسفارښت شته -
او نه نغدې پیسې لرم چه بډی گونګی
یې چاله ور کړم - او ځان دچا سره
په دیاړې مزدورې ولګوم -

دوډۍ دژوند په ضرورياتو او تقاضو کښې دتولو نه اول ضرورت دی - او دخيرغوښتونه علاوه بل هيڅ ذريعه ددې ضرورت ديوره کولو دپاره ځما سره نشته .

فقير بيا يو سوړا سويلی وکړو - چه خانزاده ! ماته خپل ځان خدا يږو چه په دی خيرغوښتو ډيرسپك او بدښکاری - او کله کله چه دې شتمنو او پيسه دارو ته وګورم - نو دځانه سره ووايم - چه ددې پيسه دارو - دقارون ددې ميراث خورو وينی خدای خبر چه ولی دومره سپينی شويدی دې غنيانو چری داسوچ ولی کړی نه دی - چه دا فقيران - خيرات ګر او ګدايان په اصل کښې ځمونږ دجامعی او سوسائټی په سپين لمن تور داعونه دی - او که هر يوشته مند او د مال دولت خاوند دخپلو شتو - دولت او آمدن سلمه برخه هم - په مياشت کښې ددې مقصد او نصب العين دپاره جدا ږدی - چه دا به دکلی اولس - ملك او وطن دکونډو رنډو - محتاجه - بيروزګاره ناروغه - مازوره او حاجتمند خلکو په ښېګڼه راولی - نو بيا ځمونږ داجتماعی ژوند دسپينې جامی نه دمحتاجۍ - غريبۍ او نيستۍ داتور داغونه دهميش دپاره لری کيدی شی .

ريدی ګل وويل: « زه دفقير ددليل او حقيقت نه ډکو خبرو حق حيران کړم - چه يو فيقر شپه او ورځ درپه درخيرونه غواړی هغه دملی معاشياتو په مسئله - دانسانيت - سوسائټې ملك او ملت دهغه دشمنانو په نبض څنګه ښه پوهېږی کوم غنيان چه دولت صرف اوتش دخپل شخصی عيش معاش دپاره لکه دقارون خوندی کوی - او فقير دا هم وائی : چه که چيری پيسه دارو دملت په حاجتمندو خلکو زړه وسيزه - نو بيا به ځمونږ دجامع په وجود دغريبۍ مفلسۍ ناداری او لاچاری چنجنې ننګۍ غور زنګونه نه وهی » .

د فقير ستر ګی بيا دا وښکو ډکی شوی چه خان زاده ، « تا ته به شايد معلومه وی - چه دانسانيت په سپينه قباتور داغونه اوس نور هم سوا شويدی - دا دوطن ، قام او ملت شته مند ! دجائدادونو او دچوکو خاوندان هډود خدايه وېرېږی نه - چه دخپل غريب او لاچاره ورونو دژوند ښه کولو دپاره دعمل ميدان ته رواوځی - دوی به آخر خدای له څه ځواب ور کوی . »

آه! فدا

جانان می سر په وطن کښېښود
په تار د زلفو به کفن ورله ګنډمه
په دی تیرو ورځو کښی
زمونږ غوږ و نو ته یو خبر په
ژړا ژړا راورسید چه د ټولو پښتنو
په زړو کښی لکه دغم غشی نال شو
اصله بدمرغه ورځ خو د ثور
او له وه چه د پښتونستان
دیو ننګیالی مجاهد او د پښتو
ژبی دیو مایهٔ نازادیب دیو ناکام
مګر پر ماجرا او مجاهدانه ژوند
دحسرتناك ختم ننداره ئی وکړه
عبدالمالك فدا مړ شو.
داڅومره یوه ساده او بسیطه
خبره ده او څنګه زر ختمه شوه
مګر په دې جمله کښی هغه
طاقت او حقیقت چرته دی د کوم
نتیجه چه د یو پنځوس کلن
پښتانه د زحمتونو خوار یو منډو
ترړو او ددې په برکت د یوی
مقدسی آرزو د پوره کیدو د امید
ناکامه خاتمه ده - یوا ځی
داخونه ده چه فدا مړ شو د دې
خبرې څه اهمیت دی؟ شل ملیونه
پښتانه دی یو دی پکښی کم وی
کنه په دی خو قوم نه کمزوری
کیږی او نه ور کیږی ولی
خبره داده چه یوا ځی دا خونه
ده چه فدا مړ شو د دې اعلان
شاته ډیری نیمګړتیاوی
او اړتیاوی دی.
د پښتونسان د آزادۍ یو غښتلی
او ښاغلی سالار له زینه ولوید
د پښتونستان د لوی مجاهد
او مشر پاچاخان مټ کمزوری شو
د پښتو ادب د پخی کلا یو مضبوط
بازو ونړید
- مرګ خو حق دی او خلاصی
ترې نه شته ولی په داسې توده
جګړه کښی چه مرګ او بدبختی
ورسره لکه د باران په شان ورېږی
دیو داسې تجربه کار سپاهی
بیلتون او په داسی لویه لار کښی
چه هره ګړۍ د قافلی د پاره دلاری
د توښی د تالان خطر دی د فدا
غوندې ننګیالی بې وخته مرګ
څومره درنه خبره ده.
یوا ځی داخونه ده چه فدا مړ شو،
د جنګ په زوانو مرحلو کښی
یوه مورچه خالی شوه هر څوك
خودا مورچه نه شی ټینګولی
د فدا عزم د هغه اراده د هغه اخلاص
د هغه قومی محبت، د هغه ملی
جذبه او د سرفروشي لوی طاقت
غواړی څه ښه ویلی دی
خوشال خټك: -
هر ملخی د سربازۍ هنر څه زده
چه په دا هنر کښی سرښندی پتنګ دی
لکه چه ما مخکښی وویل:
فدا په دې لحاظ چه:
نوم ئی عبدالمالك دی، تخلص ئی
فدا دی په خټه محمدزی
پښتون دی کلی ئی د چارسدی
میرخیل نومیږی په همدی کلی
کښی په ۱۸۹۱ ع کښی زیږیدلی
او سیده د چارسدی په بازار کښی
کسب ئی تجارت ؤ د پلار نوم
ئی عبدالجبار ؤ او په ۱۹۲۲ کښی
د خدا ئی خدمتګار حزب ته
ورګډ شوی ؤ په دی لحاظ
هیڅ اهمیت نه لری ځکه په شلو
ملیونو کښی د ده فردی وجود
لکه څاڅکی په سمندر کښی ؤ
او یو خواته که د ژوند مالك
د عبدالمالك زندګی قبض کړه،
تو یقینا به په همدی ملت باندی
د ژوند پروردګار ډیر
عبدالخالقه په همدې ورځ

پیرزو کړی وی ولی خبره داده
چه چار، دمنه څخه ولا ړیږی
دخوړوچ کاڼی خوډیردی مگر
څوك به ئی څه کاندی .

فدا په داسی وخت کښی دقوم
اوملت دبدې ورځی جارو گی
اودذات بلا ولید له او ورته
ځیر شو چه د ملت دا کثر و
و کړوستر گی یاخوجهل او نادانی
یا نفاق اوځانځانی او یادملك
اوملت دناموس ددښمن خزانو
ړندی کړی وې اودمرگ او
تباهی د کندې په خوا په منډو
منډو زغلیده په داسی وخت کښی
چه دقوم اووطن اوددې دواړو
دآزادی نوم اخستل په خپله
مری چاره رالگول ؤ په دغسی
وخت کښی چه پاچاخان یوه
وړو کې شمعه دآزادی په نامه
بله کړه نو اول څوك ئی چه ده
په دی رڼوځی کښی و لید هغه
دافداؤ اوبل پلو ترتو لو لومړی
پتنگ چه په دې شمعه وغوړید
هغه هم دا فداؤ ، دا فدا ؤ چه
دزړه له جوشه ئی نور طاقت و نه شو
په سینه کښی ئی یوطوفانی اوربل
شواو دې او ر تو لی هغه بد
غرضی او بیلاری په اور وسوې

چه باید ددغه وخت دیو پښتون
په حیثیت له ده سره وای دهغه
په زړه دقام دمینی فرشتې قبضه
و کړه هغه ته هرڅه هرڅه دقام
د کلمې اوڅادرلاندې ښه ښکاره
شول دهغه جنت اودوزخ دهغه
خیر اوشر اودهغه عزت اوذلت
بس دقام آزادی اوغلامی ؤ،
اوځکه خوهغه دپاکی اوریشتینی
مینی ته فداعبدالمالك چه د کوم
مقصد دپاره قلم را پورته کړ
بیائی ترمرگه ونه غورځاوه
اوهیڅ طاقت تری ونه غورځولی شو.

دوطن دآزادی غوښتلو په تور
دقام دعزت دمینی په گناه او دخپل
ناموس دژغورنی په جرم هغه
یواځی دا نه چه همیشه دپاره
دجیل سلامی کړی دی بلکه
د۱۹۲۲ نه تر ۱۹۵۷ پوری هغه
باقاعده طور دمال اولاد اوځان
دهرې قربانی داسی امتحان
ور کړی دی چه د هر چا پری
رخه راغلی ده .

زمونږ په وړاندې دقومی
مسئولیت له مخه دفدا سوانح
دیوپاك او تصفیه شوی حسابی
کتاب په شکل کښی پرته ده او
چه ذره بین وربسی راواخستی

شی تود ذرې هومره تور داغ به
هم په دی پاکه اوسپیڅلی لوحه
ونه موندی شی .

داوړی هغه د تلی تندی
لگیدو گرمی او دژمی هغه
ساړه . او کرخت باد و نه ، د
لوږو فشار ، د تندوبوج دشتمنی
او نشتمنی دخیال او قیدنه آزاد
فدا داسی په را نه تندی گاللی
دی لکه څوك چه نه باغ اوبن
کښی دزر گونو نعمتونو خوږاو
هوسا ژوند تېروی .

دافداؤ چه دقوم دودانی
دپاره ئی خپله هغه دجنت په شان
سیمه پریښوده ، یخ ، یخ سیوری
اوروان سیند ونه نهر ونه ډك
بازارونه اوسمسور باغونه ئې
پریښو دل دقومی مرکز په امر
دننگیالو پښتنو په ډله کښی شریك
شو یوساقی ؤ بل محمداسرارخان
دریم دتخت بهائی میاصاحب ؤ
او څلورم فدا عبدالمالك ؤ
د مومندو په وچو گټو کښی
دیره شول ډیره موده ئی دلته
د قومی خپلواکی د لیلی په
طلب نوکان والوځول بیا
چار منگ ته لاړل او هلته ئی

دا تونهو کالو د هستوږنی په دوران کښی د خپل مقدس مسلك پاکی جذبی او دملی ارادی رڼاوی خپری کړی .

ددغه فدا دپاره زمونږ زړه خوږیږی چه دغسی تاریخ لری او څلویښت کلنۍ آرزو گانی ور سره گورته لاړی هغه فدا چه پخپله د پښتونستان د آزادۍ د تحریك یو دائره المعارف او مکمل تاریخ ؤ داپټه خزانه دقومی خاطراتو دفتر دتودو سړو پیښو ذخیره هر څه پټه خوله او خولجوپ پاتی شول هغه زړه چه کلونه کلونه دقوم او ملت دسعادت او نیکبختۍ دپاره په ټوپو نوؤ ظالمانو دومره وکړاوه چه اخر ستړی شو او و درید او یوا ځی هغه ونه درید چه دفدا دټول ژوند کاروان ور سره و درید او دپښتونستان د ملت نرو ښځو د دی بریښ له زوره ملاوی ونیولی .

کوم جیل دی چه فدائی سلام نه دی کړی کوم پکټینگ دی چه دفدا سرپکښی نه دی مات شوی کوم لیلام دی چه دفدا د کاله اسباب پکښی ندی خرڅ شوی او هغه کومه جلسه او مظاهره ده چه فدا د خپلو پښتنو او پاکو جذباتو اوزد قوم په رگونو کښی نه دی پوکلی؟؟؟

زما زړه دهغه دځامنو دپاره نه خوږیږی د هغه عمر شپږ شپیتو ته رسیدلی ؤ ځوانی ئی نه وه چه مونږ پری افسوس وکړو هغه دومره لوی عالم نه ؤ چه تالیفات ئی نیمگړی پاتی شوی وی ولی کوم شی چه مونږ ژړوی او هر هغه پښتون ژړوی چه دی ئی پیژانده نو هغه دده ځوانی آرزو گانی ځوان فکر ځوانی حوصلی او ځوانی ارادی وی چه د زاړه استعمار دپاره دتیرو نشترونو په شان په ښه راتلې ومو ویل :- فدا شاعر ؤ خو ادب فروش نه ؤ هغه تاجر ؤ خو د ملت او قوم دناموس سودائی له دښمنه سره نه کوله هغه سیاستدان ؤ خو لاس کوسی او تمه خور نه ؤ آخر تاسو ووای ء چه د موجوده کشالو په لومو کښی گیر پښتانه ملت د پاره داسی شخصیت د خدای رحمت نه ؤ؟ او قوم به حق نه لری چه پری وژاړی ؟

فدا دقوم دمشرانو ډیر زیات مخلص ؤ دهغه د اشعارو دا خصوصیت ؤ چه د قوم په ژبه دقوم په اصلاح او د قوم د فهم دسطحی سره مساوی مگر پاخه خوا ږه او جذاب به ئی ویل د فدا د پاره دا یو لوی فخر دی او د هغه د او چتی پائی دشاعرۍ دپاره دا یو لوی ثبوت دی چه دپښتونستان دملت لوی مشر دده په حق کښی وائی :- دده سینه دقامولۍ او ملیت دجذباتو څخه ډکه وه د پښتانه قوم دننگ ناموس دپاره دژوند په هر میدان هغه دعلیمانو مقابلې کړی دی او په قومی جنگونو کښی مخکښی مخکښی تلی دی.

باچاخان پخپله پاکه خوله ددی بختور په حقله وویل :- دپښتنو داعظیم انقلابی شاعر ما پخپل لاس په قبر کښی امانت کښیښود او ډیر زر به ئی که خیروی سر دریاب ته وړ و مونږ دا فیصله کړی ده چه داسی ننگیالی خدائی خدمتگاران چه د قومی جهاد په دوران کښی د شهادت مرتبه گټی دهغو هدیره به په سر دریاب کښی وی.

باچا خان وویل :- دې
قومی شهید ټول عمر دولس
په خدمت کښې تیر کړ او دی
دو مره وکړ ولی شو چه اخر
اخرئی په خندا خندا د وطن
په مېنه ساور کړه .

د قصه خوانۍ د شهیدانو
دتلین په ورځ باچا خان او
پنځوسو زرو پښتنو دده دمیړانې
ستاینه او مننه وکړه او د ده
دروح خوښی ئی له لویه خدایه
و غوښته د محکوم پښتونستان
اخبارونو متحدالمال طورد ده
د وفات داسی خبر نشر کړی
دی .

دخدائی خدمتگارو مشهور
سیاسی کارکن استاد
عبدالمالك فدا د ثور په اوله
نیټه په ۱۲ بجو دزړه د ودریدو
له گیله وفات شو .

انالله وانا الیه راجعون

د ده مړی باچا خان پخپل
لاس گورته کوز کړ ، د ده
جنازې ته دټول ملك ادیبان
سیاسیون ، تاجران او ولسی
عوام راغلی وو دی د پښتو ژبی
یو داسی شاعر ؤ چه په ولس کښی ئی
دشاعرۍ ډیر درز خور ؤ
او هر چائی د اشعارو قدر او
ستاینه کوله ، دده شعرونو په
ویدو پښتنو کښی روح پوکړ
او دا خودده کلك وجود ؤ چه
دومره قیدونو او تکلیفونو ته
ټینگ ؤ ، دی د باچا خان په
خاصو عقیدت مندانو کښی ؤ په
عمر زوړ ؤ خو په خوی ځوان ؤ
ډیر بلند نظره او د اوچت سیرت
څښتن ؤ ، د پیښور دا اخبارونه
که له چانه ویریدی نه نو نور څه
به ئی هم ویلی وای .

فدا ژوندی دی ځکه هغه
دقوم په ژوند کښی قوی لاس
لری دقوم په دی نوی تعمیر کښی
دهغه دلاس ډیری خښتی دی او
هغه به دفدا یاد او ژوند محفوظ
ساتی یواځی دا خو نه ده ، بلکه
فدا داسی قومی اشعار لری
چه هغه لکه د گل په پاڼو کښی
او به داسی دقوم په رگونو کښی
ننوتلی دی او لکه په پرخه چه
د گلاب پاڼی تازه شی داسی
پری پښتو ادب تازه دی او تازه
به وی .

د پښتونستان د پاکی خاوری
لوی واړه ته دا شعر یاد دی او
یاد به وی چه : دا دنیا کړه ورانه
ورپه سرد غم کڅوړه کړه
بله دنیا جوړه کړه ای ربه د دنیا !
په دی شعر کښی هغه د استعماری
طاقت و حشت او د خپل ملت
مظلومه ورځ ژړلی ده او یقینا
چه سړی ئی لا نور ولولی نو بیا
خوا وښکی د وتو لار لټوی
څه وخت چه فدا د بابړی دقتل
عام پیښه په خپل مشهور انقلابی
شعر کښی تصویر او رسم کړه
نو بیا خو دهغه نوم لکه دایمل
توره دخیبر تړه او د ابا سیند
چپه د هر پښتانه لوی واړه
وظیفه شو .

«مرګیه مه‌را ځه‌در ځمه» یوابدی شعر دی او دپښتونستان دملت د فاع او شجاعت او داستعماری طاقت بزدلی پکښی په یو اعجازی ترتیب رسم‌شوی اوځای شوی ده.

دفدادوه شعرونه د نمونی دپاره‌وړاندی کو وهسی خود فدا زندګی او شعرونه ټول نمونه نمونه دی مګر زمونږ ځولی تنګه‌ده‌او کوم کوم ګل به‌پکښی راټولو و دی پاچاخان ته وائی :-

دسردریاب څپر کښی پروت خدائی ملنګه بابا
زیات په شوکت کښی له بابر اوله اورنګه بابا
د وطن مینه کښی پخپلو وینو رنګه بابا
ډك له پښتو پښتو نولی او نام و ننګه بابا

* * *

نوی پسرلی د پښتو نخوا په مړاؤ بوټو وینم
نوی شینکی د بیابان په کنډولو ټو وینم
د ګونګټ ترخ کښی پرونی مردك د سوټو وینم
شمعې ته مخکښی ځی په چغه له پتنګه بابا

* * *

د استعمار کرلی بوټی زاړه شوی دی ټول
په او به خور زمونږ دوینو ماړه شوی دی ټول
میوه ئی بل خوری قام ته غوښه چاړه شوی دی ټول
زاړه و باسه نوی و کړه ګلرنګه بابا

* * *

د اوسید ولایقه نه ده د پښتون دنیا
دښتی خندا کوی زمونږ په دی ژوندون دنیا
زر کړه بد له دا زمونږ د نن پرون دنیا
دا اوسنی دنیا ده اوس را باندی تنګه بابا

* * *

تا نه چا پیره دی بید سته غریبان د وطن
له سره تیر دی ستا په سر زاړه ځوانان د وطن
ستا په فرمان دارته تیار دی ما شومان د وطن
ورك شه هغه چه څوك جدا شی ستا له څنګه بابا

دور بدل کړه د دنیا نوی نظام جوړ کړه
پښتون جدا کړه له پردوا وترینه قام جوړ کړه
زمونږ بچو ته د قومی ترقۍ بام جوړ کړه
د پښتنو مانۍ دې وی له ټولو د نګه بابا

* * *

غم د فدا عبد المالك به له ضمیره وځی
چه پښتانه د پنجب بیانو له ځنځیره وځی
خو د غرضی د هر یو خان او له فقیره وځی
ترهغه وخته ده د نیا پری باندی ړ نګه بابا

* * *

د کومې آرزو او هدف دپاره چه فدا دپتنګ په شان په سرو لمبو کلونه کلونه څرخېدلی دی په یو شعر کښی هغه داسی واضح او مکمل طور بیا نوی : ـ

ملجه کابل

سر مودا وکړی دی دخو ږ وطن او قام دپاره
خو به ئی قربان کړو دپښتون دننګ و نام دپاره
که مو په ګټو لوټو ولی پښتون ورور دی زمونږ
په غره په سمه هر یو خیل دستر ګوتور دی زمونږ
دپښتونخا وره چه کوم ځای ده هغه کور دی زمونږ
څوك چه پښتون لوټوی هغه سړی چور دی زمونږ
د ښمنان نه پر یږدو وطن کښی دیو ګام دپاره
مونږ پیدا شوی یو دملك دننګ او نام دپاره
دجهل کندې نه لار پور ته دو تو جوړ وو
داتفاق پوړی خپل قام ته دختو جوړ وو
دغلیمۍ پښتو پر یږ دو نوې پښتنو جوړ وو
دنور مخلوق په شان وزر دا لو تو جوړ وو
زمونږ تحریك دی د یو والی دپیغام دپاره
خدای پیدا کړی یو دظلم اختتام دپاره .

زمونږه یو دین او مذهب دی یو ملت سازوو

پرې جنبی ور کوو ژوند د محبت سازوو

دیو پښتون با با اولاد ته اخوت سازوو

یوه جرگه دټول پښتون یو حکومت سازوو

چه پکښی حق د آزادی وی خاص وعام د پاره

یوشان لایق شی دالله دلوی انعام د پاره

* * *

خدای ته زاری کوه هر دم عبدالمالکه فدا

چه په پښتون باندی قربان شی هر یو شاه و گدا

په یو مرکز راغونډ شی ټول د اتفاق په ندا

له سمی لاری قافله د پښتون نه شی جدا

تړلی ملا شی د خپل ملك د انتظام د پاره

چه نور قامونه راځی ده ته د سلام د پاره

* * *

زمونږ په خوله دانه راځی چه مونږ ووایو چه په دې ماتم کښی مونږ د پښتو نستانو ورونو سره شریك یو. مونږ د هغه د قومی مجاهدی د میدان مشر باچاخان ته فاتحه کوو، یائی د جنگ دډ گرملگرو ته لاس پورته کوو یائی د کاله اقرباؤ ته پاتا کوو ځکه د پښتون قوم د روایت مطابق داسی مرگ د شهادت دی او شهادت کښی هیڅوك هم غم نه کوی.

پښتنی پېغلی پری ویاړی، میندی پری فخر کوی او د کاله کلی خلك پری بریتو نه تاووی او پکړی کښه زدی،

ځکه خو مونږ د نگیالو مورلوئی پښتونخوا د ننگیالو رهبر باچاخان او د ننگیالو ډلی خدائی خدمتگارو ته مبارکی وایو او پخپله هم ځانته حق ور کوو چه پدی افتخار وویاړو ځکه هر پښتون چه هر چیرته مړانه وکړه هغه د ټولو پښتنو شریك افتخار دی.

آه فدا! د قوم په خپلواکی فدا، د ملت په عزت او د وطن په ناموس فدا، د خپلو پاکو آرزو گانو فدا او د لوئی پښتیانا د سر د پرونی فدا، د پښتون په غیرت او د پښتو په ادب فدا، د خیبر په تړو او د اباسیند په چپو فدا، ای عبدالمالکه فدا، خدای دې هر هر هډوکی په جنت کړه.

ښاغلی فضل حق «شیدا»

د کلود پېغلو سندره

ځیء چه جینکو ډو ډی پټی له وړ و لا لا له ځو
هلته کښی شینکی شو تلې ر یبو به ګیاله ځو
و ا خلیء لوپټی لر و نه ځان سره بید یا له ځو
تنګې په کورو نو کښی شوو مونږ تازه هواله ځو
(۱)سا ګو له صحرا له ځو

ستر ګې تور ې کړی د ند ا سې مو نږ ه مښلی دی
لېچو کښې بنګړ ی څلو ر څلو ر مو ا چولی د ی
سپین لا سو نه سره د ی پرې نکریز ې لګید لی دی
ر ا غی ما ز یګر منګی په سرد ګو د رخو له ځو
سا ګو له صحرا له ځو

غو ا مېښې مو و لو شلې اوس مونږه وز ګا رې یو
نن مو تنو ر و نه و ختی بل کړ ه په تلوا ر ې یو
سخا سخی مو ټول و تړ ل ا و س لو بو ته نیا ر ې یو
ز ا نګو به پر ې ټو لې با نېچغ له به بېګا له ځو
سا ګو له صحرا له ځو

مو نږ د د هقا نا نو خو یند ی لو نې غر یبا نی یو
بیا هم د د ی خټو په جو نګړو کښی خا نا نې یو
دا ز مو نږ د ولت د ی چه مو نږ ټو لې اشرافانې یو
مټی د عصمت مو څو کید ا ر ې چه سو د ا له ځو
سا ګو له صحرا له ځو

مو نږ ه د خپل کلی د نر ا نو ځلمو خو یند ې یو
مو نږ ه د خپل قو م د ا یند ه نسلو نو مینـد ې یو
مو نږ به د خسر ا نو د حیا نه ډ کې نګیندې یو
مو نږ به هر زیارت د مو ر پلا ر قبر له د عا له ځو
سا ګو له صحرا له ځو

ا ې د ښا ر یو جنکو تا سو ز ېړ ز بېښلی یی ء
تا سو خو بېبا که ډ و ل نا کې بېختلې یی ء
تا سو په پر د ه کښی هم هر یو سړ ی لید لې ئی
مونږ ه خو ډ و لی کښی هم خبر نه یو چه چا له ځو
سا ګو له صخر ا له ځو

(۱) ساګو سابه

پاته په ۲٤ مخ کښې

ښاغلی عصمت الله « روحانی »

دمینی نندارتون

شپه د تور زلفو، رڼا ئې وه دقمر پکښې باغ و ودسرو ګلو د بلبلو شورو شر پکښې
ډك وو صد فونه، استخراج دملغلر و وو ډك وو په شرابو ښه جامونه د کوثر پکښې
رنګ وو دسرو وینو، دافق په کنارو کښې خور
غبر ګی سری غوټۍ وی، شرابی وو بل اثر پکښې

تخت دسپینو زرولو نګین هلته شاهی کړله مشك وو دختن خوش بوئې تلله لرو بر پکښې
سره پلته رڼاوه، لګیده زما دغم په شپه تل پکی بریښناوه ځلیده اصلی ګوهر پکښې
کش داداجل کمان، دچا دښکار لپاره وو ډکو تما نچو سره ګډغشی خنجر پکښې
ورك په حقیقت کښې شوم بحر بی پایان وودا تلمه دغواص په شان، پټ چیری ګوهر پکښې
روح احساساتی شوله، ور که جذباتو کښې فکر لوړ پروازو که ورك عقل وهنر پکښې
لری اراده شوله، واك دبل په لاس ځما رازد عاشقی وو دا لو بې وی دسر پکښې
ورك شو دبدن نظام ځکه لړ زیدمه زه پا که لارد مینی وه نه وو بل خطر پکښې
شین شومه په خاورو کښې، پورته ځم فلك لره دا محیط د مینی دی ځمه زړه ور پکښې
سره لمبه دمینی وه، وسود قانون و زر دا دعالی خیال پتنګ بایلو دل بصر پکښې
نور د حقیقت وو دا، تو له فضا سپینه شوه
سپین بهار دعشق وخوت سری وړانګی دلمر پکښې

وخندل غوټۍ په ناز، وغوړیده ګل ځکه شوله خوش بوئی پیدا شومه معطر پکښې
سپینی ملغلری شوی اوښکی دغوټی په مخ پرخه دسحر سپینه راغله په نظر پکښې
خوب وو که خیال وودا، بحر دجنون دعشق بی فکر او شعوره زه تله بې خبر پکښې

د۲۳ مخ پاته

نا ز دې د وطن ځلمی ز مونږ په پېغلتوب کوی
بې دحپل چنغو له په مړو ند به مو څوك خوب کوی
خوږ زړګی له کار ز موږ وفا دمیده چوب کوی
ننی تر انی وا یو ورته کله هر موسی له ځو
ساګو له صحرا له ځو
سبز کال لېونی چرته دې کلو له راغلی دی
ښکاری چا دګلی یا ئې زړه چرته بایللی دی
دی ز موږ ستا ینې کوی تاسو خولیدلی دی
ولی ز مونږ حسن ښیئی خلقو ته شیدا له ځو
ساګو له صخرا له ځو

(دالفت انتخاب)

په بهار می قسم

چه زما خیال ئی رنګین کړی په بهار مې قسم
چه زما ژړاته ئی سرتیټ دی په ابشار مې قسم

زېړې څېرې ، سره اننګی زه هېر ولی نه شم
په زېړو ګلو اوسرو ستر ګو د ګلزار مې قسم

چه په خو لو ئې تازه شوی دی دا سره ګلو نه
په سپېره مخ اوو چو شو نډو د ما لیار مې قسم

په بنده خوله مې دغوټۍ اوپه ژړا مې د ګل
دخوار بلبل دزړه په سر په پټ پر هار مې قسم

دلاله زړه په ډنډ دو ینو او د اغو نو باندې
د شهید انو په جنډ و او په مزار مې قسم

په زړه بایللو ، سر بایللو ، حال بایللو باندې
دد لبر انو په نخر و او په سینګار مې قسم

په التجا ، په تمنا ، په بې تابۍ په نیاز ،
په تړ مواو ښکو او ځګېر و یود بیمار مې قسم

په سادګۍ دخوار مین ، په بی نیازۍ د ښکلو
تشو وعد و ته د کلو په انتظار مې قسم

چه په ګناه دتش کتلو ګناهګار باله شی
په ګناهو نو د دغسې ګناهګار مې قسم

څو پښتنی پسر لی رانه شی خوشحال به نه شم
په پاك نو مو نو د صمد او د غفار مې قسم

ټول غمازان به شی لاهو په ابا سین داو ښکو
ای بختا نیه ستا په د غسې اشعار مې قسم

راغلی لیك

خیبری که اشرف درانی؟

محترم الفت صاحب اسلام علیکم

دهرڅه نه لمړی تاسو ته داوږد سفر د راتلوستړی مشی وایم ورپسی د رته خپله او د ښاغلی اشرف درانی دپیښور د «ننګیالی» د مجلې د یوه چلو ونکی قیصه تیر وم.

دا په قیصه کښی قیصه ده ځینو د پاره دخند او مسخر و او ځینو د پاره دحپګان او... قیصه ده.... خبره به لنډه کړم

الفت صاحب! تاسو ته که یادوی پروسږ کال مود کابل په مجله کښی زما یوورو کښی کتاب داور د لمبو په نامه اشاعه کړواو ورو سته مو په مستقل ډول هغه د کتاب په بڼه کښی هم راو یستو... لا د یاده به مونه وی و تلی بس خبره په همدی کښی ده...

ځینو دوستانو آشنایانو به ماته په خندا کښی ویلی چه یاره داچری دانګریزی یا فرانسیسی نه ترجمه ده که د تاریخ پاڼی ماڼی دی راسپړو دی او دا «خالد» «زرینه» «تور ګل» «جانسن» رابرت» او نوردی ترینه رابهر کړی دی؟

ما غریب به په موسکی خوله ورته ویلی... که تاسو دا انتظار لرئی چه انګریزان دی د پښتون قام شهامت او شجاعت، آزادی غوښتل او وطن دوستی او خپل تباهی او ظلم، جور او ستم او نوری نا کردی په خپلو تاریخونو کښی ولیکی نو ګمان کوم چه...

د دوستانو کور دی ودان وی خبری باندی ژرپوه شول قلاری شوه او ما هم فرصت بیاموند چه د «تفنګداران خیبر» کتاب ولیکم...

الفت صاحب! تاسو خوولیدل چه تفنګداران خیبر هم چهاپ شو او...

خیر دخبری سررانه ورك شو...

هو.. را یاد می شو مطلب داور لمبو په کتاب کښی ؤ...

پرون دښاغلی سراج الحق ګران دلیدو کتو دپاره دپخوانی پوه او درو ند ملګری بینوا صاحب دفتر ته ورغلم، دورننو تو سره سم راته هغه دپیښور نوی «ننګیالی مجله» چه ښاغلی اشرف دورانی او قلندر مومندی چلوی، کیښوده، ورپسی ئی ورو ګوتی په ۲۹ مخ ونښلولی او په خندائي راته وویل:

تا خو ویل زما قیصه ترجمه نده کنه او کوره چه درانی صاحب هماغه ستا قیصه د ترجمی په نامه خپره کړی... اوس څه وائی:

ماویل چه ګنی بینوا صاحب تو کې کوی، «دپښتو دزمانی دیوی قیصی ترجمه افسانوی رنګ کښی» می ولو ستله، یو وارنه دری واری...

ستر ګی می دحیرانتیا نه سپینی سپینی او توری توری کیدی.. مال یه خدایه، هغه زرینه غریبه، خالد، تور ګل رابرت او نورخولا ړه د بل شو ستا دماغ او خیال چه دا پهلوانان جوړ کړی ؤ راته ښکاری.....

نه نه قسم دی چه زما خیال او تصور دروغ نه وائی.، داشرف درانی ورور ترجمه هماغه زما

پاته په ۲۷ مخ کښی

الماس

چاویل د کوه نور دی اوچاد... باله
د پر ځلا ند ه ؤ — بر ښېده
او تر د بروخته .....حتی تر هغه
چه ځینی ورغلل . او په لویه
صحنه کښی دهمدې الماس لویه
تماشه شروع شوله. دی تماشې
هم د بروخت وینوخو بالاخره په
دوی کښې ځینی وهمدې الماس ته
په دومری قدرت قائله شول چه
بیله نیاز نه نا زهر کر لیده
کیده هم نه .

ددې صحنی په بوه غوږی کښی
یورند هم ناست ؤ او دهمدې
صحنی پر ځینوئی د بروخندل.
رندورو سته له خندا وو یل :

« په همدې صحنه کښی
زړو نه شته خودلنوازی د بره کمه
دانه زړو نه شته او هغه زړو نه
چه و نوروزړو نوته لارو نه وومی »

درندپر خبره د صحنی لږو
په خندا پیل و کړ او دا ډول
ځواب ئې ور کړ :

« ته زړه لری خودزړه سره نشه نه
تا ته د بنګو مستی معلومه وه
مګر دنیا غرورنه - ته د غنم
د دانی له افسانی څخه نه ئې
خبر او خپله بی خبری تا نن پر

پاته په ۲۸ مخ کښی

د ۲۶ مخ پاته

د ا و ر لمبو قیصه د ه .

نکی په نکی' کرښه په کر ښه
خو بی سر خط او عنوان نه..
گمان کوم باور مونه کیږی'
خیال کوی' چه زه بی ځا به وایم
خیراسانه به شی' زه به دلته د گران
نا آشنا ملگری اشرف صاحب
د رانی نه په تیکه در خواست
و کړم چه :

«هغه اثر یا رساله یا مأخذ دی
په هره ژبه چه وی' ما ته راوښا ئی
چه دهغه نه ئی د زر ینی 'خالد
را برت' تور گل» قیصه ترجمه
کړی و ی' چه په هغه کښی
د پښتنو په در نه چر گه کښی
د تور گل پلا رتقریر کوی' د زرینی
پلا روژل کیږی' جانسن د خالد
په قلا کښی بندی کیږی ما ته
که اشرف دورانی ددې قیصی
مأخذ په هر ه ژ به چه و ی
راوښئی ز ه به دتو لو پښتنو په
و راندی خپل سر د ا شرف
دورانی ور ور به چپو کښی
کیدم' که ماخذ ما ته را وښودل
شی په هردول چه وی زه کولی شم
هغه راپیدا کړم.. او که نه ؤ نو
اشرف ور وردی مهربانی و کړی
د قیصی د یا سه دی د خپل نوم په ځای
د خیبری نوم و لیکی ....

تا سو څه و ا ئی... خیبری
که اشرف دور ا نی . . . .
په د یر ه مینه
غلا م غوث خیبری »

گابل:

څوروځی پخوا د کابل مجلی
داورد لمبې په نامه بو کتاب
چه د ښاغلی خیبری تالیف ؤ
خپور کړ او و ر و سته تر نشر
ځینو ورو نو دتر جمی خیال
پرو کړو وروسته د ننګیالی مجلی
تر جمې په نامه د عین موضوع
یوه بر خه نشر کړه ورو سته
ښاغلی خیبری دا ادعاء تائید کړه
چه دا کتاب تألیف دی نه ترجمه
د کابل مجلی اداره له هر هغه
ښا غلې څخه چه پر د ې حقیقت
رڼا اچو لای شی خوا هش کوی
چه دې ادار ی ته کتباً خپله
مستند ه نظر یه د حوا لی سره
راو لیږ ی کا بل مجله به له
همدې ډول ښاغلو نه ممنونه شی
ا و نظریه به عیناً نشر کړی

«اداره»

دښاغلی ح نوابی په قلم

دربی بها یاضابطه میراث

دا کتاب پنځوس کاله پخوا یعنی د ضیاء الملت امیرعبدالرحمن خان دپاچهۍ په وخت کښې لیکل شوی دی او څوبرخی لری.

اول: په دې کتاب کښې په پښتو یوه وړوکی شانته منظومه شته چه دشاعر علم او پوهه ښه ځنی معلومیږی.

دوهم: په همدې کتاب کښې دهغه وخت د شاه دربار ته یوه معروضه ده.

دریم: اصل مطلب دی چه په هغه کښی پښتو د میراث په شاوخوا کښی په لنډ ډول معلومات شته.

په هرتقدیر دهمدی کتاب مطالعه سړی ته دا ښئی چه دنوموړی کتاب خاوند (ملا گل محمد) مرحوم یو ښه عالم او پښتون لیکوال ؤ

دده لیکوالی دده د کتاب نه ښه څرگند یږی.

او داور ځینی معلومیدلای شی چه دی پښتون په نظم او نثر کښې لاس درلود او په دواړو سره ئی ښه خپل افاده کولای شوای.

داخو به ډېر و ویونکو ته معلومه وی چه ښاغلی گل محمد مرحوم دخپل وخت دنورو لیکوالو بر خلاف چه هرهرشی او مطلب به ئې پر عربی او فارسی لیکه دی خپل ټول مطالب په پښتو لیکی چه دده همدغه دپښتنولۍ جذبه دقدر او یادولو وړ ده

ددې کتاب ټولی پاڼی (۱۰۸) دی او په څو بابو مشتملی دی چه بابونه ئې په لاندی ډول دی:

۱: باب دی په بیان داحوالاتو کښې.

۲: باب دی په بیان دمخارجو کښی.

۳: باب دی په بیان دتماثل او تداخل کښې.

۴: باب دی په بیان دتصحیح کښې.

۵: باب دی په بیان دترکه کښې.

۶: باب دی په بیان دصلح کښې.

۷: باب دی په بیان درد کښې.

۸: باب دی په بیان د مقاسمة الجد کښې.

۹: باب دی په بیان دخنثی کښې.

۱۰: باب دی په بیان دحمل کښې.

۱۱: باب دی په بیان دمفقود کښې.

علاوه پردغو باونو فصول هم لری او په متعددو قواعدو سره دامسایل حل شوی دی چه ویونکی ئې په ډېر سهولت سره ورنه استفاده کولای شی.

اوس تاسی دهمدی کتاب هغه اشعارو گوری ء چه دمقدمې په ډول د کتاب په سر کښې لیکل شوی دی:

د۲۷مخ پاته

ځینو خندوی.

ستا دنیا دنازده مگر دنیاز نه».

رند دهمدې وگړو په خندا ډېرحفه شواوخپل دمخ جام ئی وځان ته رانژدی کړ خو د جام دپورته کیدلو په وخت کښی ئی لاسونو په رېږد ېدلو شروع وکړه. درند لاس تر ډیره وخته رېږدیده خو وروسته ئی ناری کړې: «دلته!!»

«هودلته هر څه شته مگر یوشی نشته!» وگړو په ډېرقهر ورته وویل:

«هرڅه شته حتی الماس هم.»

رند بیا تکراره کړه:

زه الماس نه یادوم — زه نس نه یادوم زه احترام نه یادوم زه دوژلو او بېرولو قدرت نه یادوم زما مطلب دزړه لعل او دهغه قیمت دی چه تاسی ته دهغه قدر هرگز نه دی معلوم. ټولی صحنې په یوه پلا وخندل اوویی ویل:

مست دی — مست شوی دی او له ډېرې مودې رندزغ کړه!

مست شی ء — پسته نازو کړئی پسته نیاز ترك کړی ء — پسته...

گوری ء ستا سو د زړونو لعلونه ډېر بې قدر دی.

دهمدې وینا سره سم ئې جام پرسر پورته کړا ومدهوشه شو.

ژواك

هغه ذات چه دی قدیم دی بی انکاره
له عیبونو واړو پاك تل برقراره

دوجود ئی ابتدا نشته ای ور وره
انتهای دوجود همداسی گوره

تل تر تله په وجود سره موصوف دی
په معبود حقیقی سره معروف دی

په دنیا کښی هیڅ شی نوو نه دنیاوه
دا دنیا په ده صادقه په رشتیاوه

دی خالق د کل عالم دی پهر آن کښې
هم عالم پهر یو څیز دی په جهان کښې

ټول صفات دده صادق وو په ده باندی
نه مخلوق او نه معلوم وو هلته وړاندی

بی له هغه یو ذات نه وچه موجود ؤ
هم په هغه مرتبه کښې خود معقود ؤ

دی موصوف په کمالاتو ټولو ور وره
مبرا له نقصانا تو دی هر گوره

چه په کن ئی ټول عالم پیدا که جانه
بی خولی ژبی په گفتار ده واوره زمانه

لفظ د کن ئی په سرعت کښې یو نظیر دی
هسی نه چه کاف نون دده تقریر دی

دده فضل او احسان و ته نظر کړه
زر دده په انعامونو څان خبر کړه

ده پیدا بابا له خاورو کړ ای جانه
مقتدا ئی د ملکو کړ جانانه

فضیلت ئی د عالم و ده ته ور که
سجده گاه د پرښتو ئی مقرر که

دا دم فضل و کمال علم ؤ جانه
په قران کښې خود مذکور دی واوره مانه

انبیا ټول عالمان او عارفان وو
په دنیا کښې ټول دلمر په شان روښان وو

فضیلت ددوی ظاهر دی څماور وره
پشاهانو د جهان باندی هر گوره

هغه ذات چه لا شریك یعنی یکتا دی
نه ئی مثل په جهان کښی څوك پیدا دی

انبیا او مرسلین په هر زمان کښې
ده راواستول په نوع د انسان کښی

چه په علم دوی قومونه خپل خبر کړی
عقاید صحیحه د زړونو ور کړی

دا یو لوی نعمت د هغه ذات وشماره
شکر به ئی په هر وخت کړه نیکو کاره

په آخر کښې ئی را واستوه افغانه
مونږ ته داسی یو رسول صاحت عرفانه

چه د ټولو رسولانو مقتدا دی
سر حلقه د انبیا د کل پیشوا دی

په صورت سیرت کښی دی، دی بی نظیره
دی بیشکه دی در یتیم روشن ضمیره

د آفتاب او د مهتاب چه څه انوار دی
دا بیشک دده له نوره مستعار دی

پاته په ۳۰ مخ کښی

سور شفق

دا شفق، دچا رسدې ده — جوړه کړې ډرامه نن ؟
یا که خیال دی د سرو لبو — د افق کړه میلمه نن ؟
یا فلك ده رنګولی، — په کوم خیال باندی جامه نن ؟
یا له قهره سور او ښتی — پلمه جوی دی په پلمه نن ؟
چه آسمان آتش پرست شو، — که د میو پیمانه ده ؟
یا خو چیری لوڅه شوې — د یاقو تو خزانه ده ؟
ارغوان، که هند وانې دی — یا د وینو طوفانو نه ؟
سور سالو دی د لیلی، یا — د مجنون د زړه زخمونه ؟
یا رنګمال د طبیعت نه — دی توی شوی سره رنګونه ؟
یا سیرابه لاله زار دی — یا بی آبه سره اورونه ؟
چه دوکان دی دغالیو، — که سور رخت پروت دی هندوته؟
یا زهره پیغلو ایستلې — د آسمان وشنه تامبوته ؟
که په سرو بخملو شپې کړه — دولتی دروازه سازه ؟
یا سرخ پوشو قربانۍ ته — بیا جرګه کړله آغازه
یا آسمان ځګر خون شوی — د بشر له لوړ پروازه
یا د ورځی تیر بداته — کړه خونی نهنګ خوله وازه
یا، که خون د شهید لمر شو — خونی چرخ ته ور پغاړه
که په سرو دوینو ستر ګو — می، سور بریښی جهان واړه

د ۲۹ مخ پانه

دجنت حور وغلمان که څو زیبا دی — ټول دده له غوره نوره هویدا دی
مرتبه ددی رسول به څوك بیان کا — یا دعوی به ئی په ژبه د عرفا کا
چه نبیان او مرسلین عاجز دی وروره — کل دشناخته در نبی دده هر ګوره
بی له خدایه دی له واوړ بزرګتر دی — ولیکن په مخ دخدای کښی خاص بشر دی
امتیان د ده بهتر له امم وروره — په قرآن کښی دی راغلی داسی ګوره
عالمان دا نبیاوو ارثان دی — څو قایم دوی پخپل دین صاحب عرفان دی
فرایض علم میراث چه چا ته وائی — په نصفی د کل علوم سره ئی ستائی
دی یو علم مختصر ډیر فایده مند دی — دهر چا چه وی ښه یاددی هنرمند دی
ولیکن په افغانانو ډیر مشکل وو — څو په ژبه افغانی نوو د بل وو
چه په ژبه دافغان شه ډیر آسان شه — خواهش مندئی هر عالم طالب افغان شه

دښاغلی حبیب الله «حبیب» ترجمه

نزهنی نوفگورود کرملین



«» په حیث جوړ شوی ؤ نو د مناری جګوالی ئی هم له همدی کبله دی، د دی قصر تعمیر د والګا د سیند *

د کریملین د مانۍ د برج هغه برخه چه ساعت پرې نصب دی او د هغه د یوال برخه چه والګا ته نژدې ده.

نزهنی نوفگورود کرملین دروسی د مشهورو او پخوانیو قصرونو څخه دی چه د والګا د سیند پرغاړه موقعیت لری د دی قصر لوړی او جګی مناری له ډیرو لیرو ځایونو، مخصوصاً دلمر لویدو په وخت کښی ښه واضح ښکاریږی. دا ځای تقریبا څلورسوه وپنځوس کاله پخوا دیوی جنګی او دفاعی کلا «»

* پرغاړه په یو داسی ځای کښې موقعیت لری چه ارتباط ئی د قدیمی کلیو سره ډیر نژدی ؤ. د قصر د یوالو نه د څټو څخه جوړ شوی دی چه د روسیی د خلکو د تیر وزمانو د څټګری او نورو داسی فنونو نمایندګی کوی. لیدونکی د دی د یوالونو او د قصر نورا عماری منطقو د لیدو څخه کولای شی چه د دی ملک د اوسیدونکو د پخوانی صنعت سره آشناشی. برسیره پر دی چه کریملین یو پخوانی او تاریخی ځای دی د تیر شو و روسانو د تیرو زمانو د صنعت ښکارندوی هم دی. دا خو څرګنده خبره ده چه د زمانی تیر یدل پر هر شی کښی بدلون راولی او خرابوی ئی اوس د روسیی حکومت په دی فکر کښی شوی دی چه دا ځای بیرته د پخوا په شان (هغه ډول ئی چه پخوا درلود) ترمیم او جوړ کړی. همدا سبب دی چه اوس په دی باره کښی یو شمیر د تاریخ او د موزیم متخصصین بوخت دی چه د دی مقصد لپاره عمیقی مطالعی وکړی څو چه د کلا په ترمیمولو کښی لکه د پخوا په شان د کار ګرو او څټګرانو سره ښه ملګرتیا و کولای شی. د دی

ځای دمناری او حجاری کارونه
شروع شوی دی. څرنګه چه
تاریخی اسناد ښیی په دغه کلا
کښی یوه جګه مناره وه پر
سرباندی یی یوه کوډلی او
برسیر ئې ه یو ساعت. هغه کوډلی
چه مو وښودله تیاره شوې ده او ساعت
به ئی هم د تاریخی اسناد وله
رویه لکه د دغه ځای پخوانی
ساعت ډیر ژر جوړ شی مګر مهمه
او مشکله خبره دا ده چه د (ایفان)
مناره او د هغه مناری در اننوتلو
دروازه به څرنګه جوړیږی

ځکه چه دغه ځایونه لږ څه
مشکلات لری چه دیوال او مناره ئی
څنګه جوړه شی او په څه
ترتیب ئی کړ کی او بیا د کړ کیو
چوکاټونه او هغه سیخونه
چه په کړ کیو کښی نیول کیږی
جوړ شی، اوس نو د دی لپاره
چه دا دیوالونه جوړ شی ډیر ینی
خښتی او یا نور داسی د څټګری
شیان غواړی. اوسنی څټګران
د دی شیانو د آمادګی د پاره
زیار کاږی، دوی به دا فعالیت

ته ادامه ورکړی او په ننني
او پرونی صنعت کښی چه کوم
تفاوت دی هغه به هم معلوم کړی.
دا وسپنی شیان به ئی هم همدارنګه
جوړ او تهیه شی.

د زمانی تیریدو د کرملین
دیوالونه خراب کړل خو اوس ئی
بیا جوړوی او په ډیرو نژدی
وختو کښی به هغه ځای چه
د روسیی ډیرو شاعرانو
او لیکونکو ئی په خپلو لیکونو
او شعرونو کښی نوم اخیستی
دی د سر په ستر ګو هم ولیدل شی.

له پر نیسی غوږ له ډېرې مغرور یه
که هر څو کړی «حنان» په انتظار عرض

(ط)

د مخ ګل لره دې تل خزان له خط
دې کشتۍ ته رسی دا طوفان د خط
په تېر شوی کار لاس نه رسېږی ځکه
خو برویان دی همېشه پښېمان د خط
د ګل پاڼی په خار کله خرابېږی
لکه مخ د هر ګل رخ ویران له خط
په سل جور ئې د حسن ملك خراب کړ
نه مې ؤ په زړه کښې دا ګمان له خط
لکه بد خط چه پر ښه کاغذ رقم که
و ښه مخ ته رسی هسی زیان له خط
چه شکر و د بوسې ارزانی و کړه
د مخ ښهر ته راځی کاروان له خط
که ئې سل خاره د خط په صورت ګډدی
ګرزو لای نشی زړه «حنان» له خط
هسی راغی په شتاب پر مخ د یار خط
چه مې نه ولید راتله د دې غبار خط
هېڅ کافر هسې شبخون پر اسلام نه که
لکه و کړه د ګلر خو پر رخسار خط
مور چه ګانو ځای پر پاڼی د ګل ونیو
که پر مخ د صنم وینو قرار خط

دمیګو نو شو نډ و قدر ئې ډېر کم کړ
څه بېحده ظلم و کړ د نګار خط
د ګل پاڼی په سبزه کښې شوه پایماله
که عذار د دلبر وینو وار په وار خط
د وښو شغله تر یو ساعته نه وی
اعتماد مکړه پر دانا پایه دار خط
چه ئې قدر د شیرینو لبو کم کړ
زه «حنان» ئې کړم په داسبب په دار خط
دا تر زلفو را ښکاره شو د دلبر خط
که پر پاڼی د ګل کښلی په عنبر خط
پر ساده رخسار ئې هسې عرق زیب کا
لکه کاږی پر کاغذ کاتب په زر خط
له حیرته ئې قلم لسه لاسه لوېږی
چه دا ستا در خسار کاږی مصور خط
دا محال دی چه به ستا ابرو که نقش
که نقاش کاږی د توری په جوهر خط
که افعی ئې ستا د زلفو په نظر شی
پر ځان و کاږی له ویرې پاړو کړ خط
ستا په خیال پسی مې زړه هسې بیرون شو
لکه و لېږی په زوی پسی پدر خط
سرخ روئی د «حنان» هاله شی ویارته
چه له وینوئې دزړه شی پر ځیګر خط

﴿ ظ ﴾

وامې نه خیسته لـه چا نه څخه حظ

نه له یـاره نه له ځـا نه څخه حظ

نوی خط مې په ژړاډ ېر خوشا لېږی

واښه اخلی لـه بـارا نه څخه حظ

خنك زړه مې په سینه کښې خفه کېږی

بندی نه وړی له زنـدا نه څخه حظ

دیار خیـال چه راشی اوښی په عذاب کا

سپۍ مېر من وړی له مهما نه څخه حظ

د خنك زړه صحبت پرېږده که دانائی

څوك به وړی له ګورستا نه څخه حظ

مخ ئی هیڅ کله له زلفو بهره نه وړی

نه وړه کېږی له پرېشا نه څخه حظ

لـکه طعم در نځور د خولی خراب وی

هسی ورك شو له « حنانه » څخه حظ

﴿ ع ﴾

چه می ولیده داستا د سپین رخسار شمع

راته هیڅ شوه نور د ګلو د ګلزار شمع

مخ دی مـه پنها نـوه لـه مـا ضعیفه

ترسبا پوری لګیږی د بیمـار شمع

ژرمی جوړ کړ مابی صبره خپل داغو نه
ولی وژنی په اوله شپه کښی خوار شمع

غم لیدلی زړه الفت له عشقه ډیر کړی
چه ئی دودلاوی بیا ژر لګی دوبار شمع

له افلاسه می په تن کښی اور پیدا شو
لکه بل کړی د ځګر په اور چنار شمع

د پټن پر طالع ډیره کینه راشی
بی حجابه ورته بله وی دوبار شمع

چه شهید په تیغ د ستر ګوشی «حنانه»
پس له مرګه بې لګیږی پر مزار شمع

* * *

په مجلس کښی ستا ترمخ شرمیږی شمع
د سپوږمۍ په شپه بیځا لګیږی شمع

کامل حسن دی و هر چا ته فیض ور کړ
د تمام مجلس یوه بس کیږی شمع

ماه رویان دی بحث ستا له مخه نکا
چه نمر و خیژی نور نه څلیږی شمع

چه دعوه د حسن کاندی ستا له حسنه
ولی هسی پر اورو کړیږی شمع

صفا ئی ئی د مخ و شوه زما په او ښو
چه ئی تیل وی تر هغو لګیږی شمع

دصادق عاشق په سوخت معشوق نرمیږی

په سوختن د پروانه څڅیږی شمع

که مخ پټ کړی له «حنانه» څه به وشی

د فانوس په پرده نه پټیږی شمع

﴿غ﴾

دا چه ایښی پر سینه ز ما صنم داغ

رب دی نه ایږدی پربل بنی آدم داغ

په کوڅه کښی چه ئی کله رقیب وینم

تازه کیږی می له غمه په هر دم داغ

چه می نم له ستر ګو وچ شو سبب دادی

چه چشمانو ئی په زړه را کړ محکم داغ

چه و باغ ته خرامان ځی کله کله

زدی پر پاڼی د ګلانو هر قدم داغ

سر ئی پور ته شی له فخره و آسمان ته

پر هر زړه باندی چه کښیږدی دستم داغ

خوبرویان په هنر زړه له خلقو یوسی

د ملهم په بانه کښیږدی د الم داغ

لا تر کومه ئی د هجر په داغ سوځی

له «حنانه» څخه واخله دا دغم داغ

* * *

ستا په غم کښې هر ګز نلرم فراغ
زړه مې شين خاطر مې مات سوی دماغ
حيران زړه مې لـه بغله څخه ورك ؤ
ستا په زلفو کښې ئې چا را کړسراغ
پس له مرګه بې(١) ګل و زيږی له قبره
دلاله په دود بې وی پر سينه داغ
بې له تا ستر ګو غمنا کو زړه پريشانه
يم تېر کړی تر هوس د ګل د باغ
د نفس تار مې بسته ستا په د يد ن دی
بې له تا راته زندان دی باغ وراغ
ستا د مخ د سيل څه دی له رقيبه
و ګلشن ته باغبان کله پريږدی زاغ
له «حنانه» حجاب مه کوه دلبره
پروا نه دی ستا دحسن پرڅراغ

ف

په چهان کښې دې دحسن نشته کف — له عاشقه سره بويه تلطف
خدای اخته په هسې حسن کړم عالمه — چه ئې قبر ته ارمان بوود يوسف
که مې وژنې که مې پرولې رضا ستا ده — وبه نکړم ستاله قول له تخلف
چه تو به ئې په ما کښه د استا د مينې — په بوه ديدن دې واره شو چف چف
اند پښنه چه مې د قتل شی در پيښه — هيڅ په دا کښې په کار ندی تو قف
دقيامت دورځې شوردی چه ښکار يږی — که پرمخ باندې پروت دی دخط خف

چه ديارو اغيار فرق در باندې نشته
زه «حنان» په دا سبب خورمه تأسف

---

(١) بې دبه ئې مخفف دی.

چه په عشق کښې همېشه صادق وی صاف — کله شی د هغو یار وعده خلاف
د سرو شو نډو په لذت عاشق پوهېږی — په قیمت دلعل څه پوه دی نداف
امتیاز د ښو د بد و ځبله نشی — ځکه کاندی هر نامرد د مردی لاف
د دانا خبرې د رګران بها دی — که ئې وزن په کاڼ(۱) و کړې د انصاف
چه وبل ته یاوه وائی یاوه اروی — د اقلپ زر به بېر ته ور کاندی صراف
شاعران ډېر شو د شعر قدر نښته — په کشمیر کښی قدر نلری شال باف

چه رقیب و تا ته ځان په لباس تېر کړ
د «حنان» به دلته نه وشی کفاف

﴿ق﴾

هسې تللی یم په فکر د خپل یار غرق — لکه سنګ د ښېښی که کره د نار غرق
کوم ګل رخه بیا په سیل د ګلشن ځی — چه ګلاب شو په سرو وینو سهار غرق
د ادچا د زلفو باد پرې برابر شو — چه ئې مشك کړه په نافه کښی د تاتار غرق
له خجلته ستا د نما ښوئې ځان پټ کړ — عمیق در یاب چه شو در شاهوار غرق
د ناصح له نصیحته مې سر خوږ شی — د ناقص طبیب له لاسه وی بیمار غرق
د دنیا عیشو نه و کړه بېعقلانو — د حیرت په دریا بو کښې شو هوښیار غرق

مړ ئې کړ «حنان» له ډېره انتظاره
خدایه ته ئې په خپل قهر کړې روی بار غرق

هومره توان را څخه نشته نه توفیق — چه رقیب دې کړم په وینو کښی غریق

---

(۱) د کاڼ څخه مطلب کاڼی دی .

نرگس کوږ گوری له وهمه ستا دستر گو — هم تر لبو دې خجل لعل د عقیق
ستا له مخه ابوجهل رقیب مایوس دی — ستا د مخ اسلام نصیب زما صدیق
د کم عمر رسن کله ورر سېږی — د زنخ څاه دې هر گوره دی عمیق
ستا د ستر گو درنجو چاته فریاد کړم — چه آواز مې له خولې نه ځی به تحقیق
د محشر په ورځ به مست یم له خماره — که د استا له لاسه را کړی یو رحیق

شعر تل په اندازه وایه «حنانه»
طبیعت دیار هر گوره دی رقیق

دقلم په دود څوزړه نه کاندی شق — د نو خطو د خیال مشق نشی مطلق
کوم شوخ چشم و صحرا ته ځی چه اخلی — له تمکینه ئی آهو درم سبق
د هغه طبیب له لاسه سخت بیمار یم — چه په خیال د لب د میو کړم عرق
سیا بختی مې ددې خپل آواز رانجه شو — په شکوه مې ترخو له نه خیژی نطق
دا د کوم ماهروی دغم خناق نیولی — نمر چه وینه هره ورځ څښی د شفق
هیڅ له ځانه له جهانه خبره نه یم — هسی یم د یار په خیال کښی مستغرق

دسرو شونډو دبوسې داد پر «حنان» کړه
ستا د حسن د زکوة دی مستحق

چه دې سوی دی د حسن په اور خلق — ستا له لاس څخه گډ شو په شور خلق
د غم شك چه پر خوله وخوری زړه خبر شی — په وهل ددر خبر ېږی د کور خلق
زه په څه کړم د رقیبه د ښو طمع — نادیده ؤ څخه نکوی پور خلق
زړه کباب نمك داو ښکو یار ته کښېږدی — بې نمك کباب نه خوری خوش خور خلق
ظلم جور پر ما ولې کړې ضعیف یم — پر کم زوری باندی نکوی زور خلق

لکه زه چه ستا د عشق په اوریم سوی
خدای دې نه سیځی په هسې اورنور خلق
له هغه مخه «حنان» څه رنګ پر هېز که
چه ئی ګډوی په تعریف لور په لور خلق

ك

ستا د عشق په لار کښې سر څه کوی څوك
دانو ښه په داسفر څه کوی څوك
د کان څه په کار راځی چه ما یه نه وی
بې له وینو لیمه تر څه کوی څوك

* * *

د عشق راز که څوك ساتی او ښکی عیان که
ملګری دیرد ه در څه کوی څوك
وخت د ګل قیمت د میو جهان نه دی
سرمایه د شور و شر څه کوی څوك

* * *

چه دې خیال راځی زړه باسم له بدنه
په مجلس کښې نوحه ګر څه کوی
زما د مرګ ته ئې د زلفو ماران جوړ کړه
د مېږی په مرګ حشر څه کوی څوك

که د یار زلفې ته لاس شی د «حنان»
ګلاب عطر مشك عنبر څه کوی څوك

* * *

که زړه ستا په عشق کښې چاك شو نشته باك
کوم دی زړه چه ستا له غمه نه دی چاك
زړه پر خدای سپارلی هر څه ورپېښېږی
په خوبا نو ئې موقوف شو هر کون واك

خو بر و یا ن دزړه په وړو کښې استاذ ان دی
یا ره تا ر نګه یو نه و ینم چا لا ك
ر حم و کړه چه له دې غمه بېغم شم
سا قی را کړ ه ما ته څه ا و به د تا ك
چه یو ښکلی چېر ته و و ینی بند ی شی
خد ا ی خوا ر کړې ز ړ ه له ز مه نه د ی با ك
د معنی زیبا ئې بو یه په رنګ څه شی ؟
د کا فو ر و قد ر نلر ی ا ها ک
که مجنون دلیلی غم ؤ ز بون کړ ی
باری نه ؤ د «حنان» په رنګ هلا ك

* * *

عا شقا ن و لی له کا نی د ا فلك
هر آ هن کله مښو دشی پر محك
ز یبا ئې دخو بر و یا نو ستا په مخ د ه
طعا م نکه خو ند چه نلر ی نمك
ستا له غمه سر ګر دا نه مدام ر یږ م
شپه و ر و ځ د سر په تار لکه جلك
دادمخ په آ ئینه کښې ئې خا ل ندی
په ر خسا ر ئې عکس ز ما دمر د مك
ستا دزلفو و رخسا ر ته مد د نشته
د کا فر ا سلا م ته نه ر سی کو مك
ر قیب هېڅ فیض دیا ر له مخه نه وړی
و آ فتا ب ته کتا ی نشی شب پر ك

زه «حنان» دې غم به هسی شان ناتوان کړم
چه د با د له مخه ز غلم لکه کك

* * *

د و فا طمع به نه کوی له تا څوك
چه خبروی ستا له جو ر ه له جفا څوك
یوښه باغ د ی دا دنیا فلـك نا مر اد
فرصت نه کـاندی چه و که تماشا څوك
غو نچه نشته چه خزان ئې فنا نه که
د ز ړه غوته به که خلاصه پر صحرا څوك
ډیر نـا ز ك د ګلو ښاخ د ی پرو ېر ېږ م
چه لاس اوږدو ربا ندې نه کـ ندی بېځا څوك
بې ملګری سرانجا م د کـا ر و نشی
بې و لد ه کلـه غلا کـاندی تنها څوك
لـه کر مه ئې هر حا ل پو ښتنه بو یه
چه داستا کو څه دضعفه کړی ما وا څوك
دامحا ل دی چه غریب سړی بادشاه شی
ز ه «حنا ن» څوك ستـا دلبو تمنا څـوك

﴿ ل ﴾

نه ر سېږ ی ستا و و صل ته د لیل
عقل نه کا په دا با ب کښی قال و قیل
د بدبـه د خسروی چه دې شوه پو ر ته
د کسر ی پر ډما مه ئې و کیښ نیل

ولوئي ته دي دعقل چاره نشته
د درخاورې دې رانجه کړې جبرئيل
په ډېر لطف سره ئې و بللې پورته
ستا ولورته منتظر د عرش قنديل
لا مکان ئې ستا مکان په خپل قدرت کړ
گفتگوی در سره وکاوه جليل
نه نوی زره خبرې درته وکړی
څوك د کوی څوك د مکوی د څو وکيل
درته وې ښو وې واړه د سر خبرې
ښه ئې پوه کړې په کثير و په قليل
ده پخپله د لولاك خلعت در واغوست
ستا له رويه ئې پيدا کړ سلسبيل
عنايت چه پرتا ؤ پر بل چا نه ؤ
که موسی ؤ که عيسی ؤ که خليل
له فرمانه چه دې سر غړاوه څه شو
په قيامت به شرمنده پاڅی ذليل
مخ ئې توردی چه منکر شی ستا له امره
حاسدانو ته دې سپك بار شو ثقيل
په لسان دهېڅ انسان دې صفت نشی
له تعريفه دې قاصر عقل طويل

ملجه کابل

چا چه شك در لودداستاپه نبووت کښی
میاشت شوه ستاپه رسالت باندی دلیل
چا چه نه وکړ باور منافقان شول
چا و نه کړ ستاپر دین باندې تعطیل
دحساب دو رځې بیم مکړه «حنانه»
دعاصیانو په بخښنه دی کفیل

☆ ☆ ☆

په گلشن کښې که ښکاره کړې تور کاکل
آشفته به کاندی زلفې د سنبل
تن ئې هسې په گلنار لباس کې زیب کا
لکه وا چوی باد یو پر بله گل
څه تاراج ئې کړې دستر گو په وهلو
قافلې د دل و دین د تحمل
داز ما ژړا آسمان په گردش کښېوست
زورور سېل مدام وړی له ځایه پل
د گل رخو خط عاشق ته مستی ور کړه
تل مستی کوی په رنگ د گل بلبل
چه ئې خیال کړې د گلگون رخسار «حنانه»
ځکه شوه داستا سینه روضه د گل

☆ ☆ ☆

یو بلبل ندی تنها گویان د گل
په فراق ئې دی سوخته جهان د گل
هرزه گوی عاشق پرده دمعشوق اخلی
گوره څیری کړ بلبل گریوان د گل

چه په خیال کښې مې دزړه وینې څڅېږی
زماله زړه دیار ترڅاخیا بان د ګل

نامید ی له خلقو کړ ه که را حت غواړی
په خزان شی آسوده با غبا ن د ګل

پر ښه مخ د بو ا لهو س نطر خطر د ی
د ګلچین وی تش کا ته طو فان د ګل

په عر ق زیب که ر خسا ر د ګل رخا نو
دا په د ا چه مشا طـه با ران د ګل

بیا دچاو خون ریزی ته لحی «حنا نه»
چه ئې وا غو ستې جامی په شان د ګل

* * *

ستا د وروځو خیال کړم خم لکه هلا ل
لا د ناز تصو یر دی نه را لحې په خیا ل

چه جدا له ګلر خا نو یو سا عت شم
او ز د یر ما هغه ساعت شی لکه کـا ل

چه ئې خیال دسم قدنه را لحی په خوا کښې
الف قد مې هسې خم شو لـکه دال

داهجو م دسیا ه بختی ند ی نو څه د ی
چه تمام عمر مې نه و لید ستـا خا ل

ښاپیر ی به دا ر م تولې لیو نـی شـی
کې په خواب کښی چیر ته ولید ستا جما ل

چه دې قتل په غمزه کړم جفابس کړه
دېر په‌ماتې پسې‌تله نه دی کمال

چه‌دخط تعریف ئې‌تل وائې «حنانه»
هم‌په‌دا شو ستا زبان د توتی بال

* * *

شاعران د پښتنو د بر دی تر سل
څو به کړم در ته معلوم‌زه په ویل

یو میرزامیر خان د ولت دعلم کان و
دسلوك شعر ئې کړی دی افضل

بل آخند میا داد دعشق په میو مست ؤ
ښه شیرین الفاظ ویلی دی و اصل

بل رحمان سړ بنی د پښتو ردی
په‌پښتو ئې غزل به دی یو تر بل

دخوشال ختك و بل کل نصیحت دی
په ظاهر ئې مسخرې بوله با لکل

بل‌شاعر عبد القادر د خوشال زوی
ښه کتاب ئې‌دی جوړ کړی‌لکه کل

بل‌حمید موشکاف د خیال په شعر
څه به وایم تأسف در ئې پیل

علیخان آخند زاده هم ښه‌شاعر ؤ
ښه‌ابدار در ئې له شرمه تو یول

ملاحسن آخند ښه‌پیر په تلوکان کښې
په ویلو کښې دشعر د پرا کمل

دا خند پیر محمد نظم ته که ګوري
هر ګفتار ئې دی په مثل د بلبل
جان محمد حافظ کار کړ په نعت و مدح
سیال ئې نه ؤ په پښتو کښې په و بل
اوس زمونږ دزمانې ملا شمس الدین دی
په تکلیف ئې جوړ ول مدام غزل
ملاجمعه په شاعرۍ کښې ډېر استاد ؤ
په هر بیت سره ئې زړه و نه سو لول
د عیسی آخند زاده ښه شعر که واوري
آفرین به باندې وائې تل ترتل
اوس صدیق اخند زاده ښه شعر وائی
ډېر ښه پوه دی د بیتو په نښلول
دسکون مهر پر خوله کښېږده «حنانه»
څه غرض لري د خلقو په ښو ول

﴿م﴾

راشه راشه ساقی را کړه یو څو جام
امید نشته د دې دور له دوام
ژربه ورسې مقصود ته زه ضامن یم
په اخلاص دیار یرلور واخله څوګام
نه پټېږی عشق د صبر په پرده کښې
د عشا قو تشت لو بد لی دی له بام

د پښتو ټولنی تازه خپرونی

۱ : لور خیالو نه اوژور فکرونه ـ د گل پاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داورلمبې د ښاغلی خیبری اثر یوجلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښی دښاغلی بختانی تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق دښاغلی الفت اثر یوجلد په (٦) افغانۍ

٥ : افغان قاموس دښاغلی عبدالله افغانی نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : پښتو نثرونه دمحمددین ژواك تدوین ...

۷: پریشانه افکار: د ښاغلی بینوا یو جلد په (۸) افغانی

۸: ښه نړۍ په دوه زرم کال کښی دښاغلی واسعی ترجمه

دا کتابونه دپښتو ټولنی په پلورنځی کښې موجود دی .

کابل مجله

دامجله دپښتو په خوازه ادب ادبی تنده ماتوی .

دامجله دپښتنی دنیا دمعرفۍ یوازینۍ وسیله ده.

دامجله دتیرو او او سنیو پښتنو پرژوند ښه رڼا اچوی.

تاسی کولای شیء چه داتنده په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په د ننه هیواد کښی په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلداری په نورو دباندنیو هیوادونو کښی په (۳) دالره ماته کړیء

دښوونځیو وزده کونکو ته په نیمه بیه .

دنوی کال داشتراك دپاره په کابل کښې همدغه بیه دپښتو ټولنی دمحاسبې مدیریت ته او په ولایانو کښې دهمدی مؤسسی دجاری شمېر (په ۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی.

مطبعهٔ دولتی